خپریدل: عمومي
۹ مارچ ۲۰۱۱

اصل: انګلیسي

# امنیت شورا

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت باندې یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. سریزه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۱۱/۶۴ ګڼه پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) ګڼه پریکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې امنیت شورا له ما غوښتي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت او بدلونونو په اړه راپور ورکړم.

۲. دا راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ټولو کړنو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي او د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۱۰ نېټه زما د پخواني راپور (A/65/612-S/2010/630) راوروسته د هېواد پر وضعیت بیاکتنه کوي. د دې راپور په ملپاڼه (ضمیمه) کې زما د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۱۰ نېټې راپور (A/64/705-S/2010/127) راهیسې او د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړه لیک سره سم، د ټاکل شوو موخو او شاخصونو پر لور د شوي پرمختګ یوه ارزونه وړاندې شوې ده. هغه ټاکل شوې موخې چې د لاسته راوړلو لپاره یې پرمختګ شوی، د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر په ۲۲ نېټه امنیت شورا ته زما په راپور (A/64/364-S/2009/475) د وړاندې شوو موخو په پرتله له ډڅه نوې او تصحیح شوې دي. یادې ټاکل شوې موخې اوس د افغانستان په تړاو جوړو شوو نړیوالو کنفرانسونو، چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په ۲۸ په لندن او د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ په کابل کې جوړ شول او د کابل پروسه هم ورته وایي، د اهدافو او شاخصونو او همدارنګه د یوناما د ماموریت په چوکاټ کې ترتیب شوې دي.

### دویم: امنیت او سیاسي بدلونونه

#### أ. امنیتي وضعیت

۳. د امنیتي پېښو په شمېر کې د تېرو څو کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دی، چې په ۲۰۱۰ کال کې په اوسط ډول د ۱۶۲۰ او په ۲۰۰۹ کال کې د ۹۶۰ پېښو په پرتله د ۲۰۱۱ کال په جنوري میاشت کې د امنیتي پېښو شمېر ۱۶۶۴ ته رسېږي. په دغه ډول پېښو کې اکثریت یې وسلوالې نښتې او د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو چاودنې شاملې دي. همدارنګه د ۲۰۱۰ کال په پای کې ځانمرګي بریدونه د ۲۰۰۹ کال په اوږدو کې په اونۍ کې په اوسط ډول ۲،۶ په پرتله په اونۍ کې ۲،۸ ته زیات شوي دي. په ورته وخت کې، د ۲۰۱۰ کال په وروستیو دوه میاشتو او د ۲۰۱۱ کال په جنورۍ میاشت کې لا هم د سرې تښتونو او وژنو (ترور) پېښې رامنځته کېږي. د راپور ورکونې مودې پر مهال جنوبي ولایت کندهار او شاوخوا سیمو کې یادې پېښې تر

نورو زياتې وې، چې په ټوليزه توګه پکې ۲۰ ځانمرګي بريدونه او ۳۳ د وژنو پېښې رامنځته شوي دي، چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوال مرستندويه امنيتي ځواک (ISAF) د فعاليت تمرکز هم په همدې سيمو دی.

۴. افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو پوځونو خپل عمليات زيات کړي دي. د راپورونو له مخې دولت پلوه ځواکونو د دولت ضد عناصرو د شبکو د منځنۍ کچې قوماندانانو ته زيانونه اړولي دي. همدارنګه د ياغيانو تر کنټرول لاندې ولسواليو شمير کم شوی او د کندز او بلخ ولايتونو په شاوخوا سيمو کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او ايساف ګډو عملياتو د دولت ضد عناصر له خپلو ځايونو تېښتې ته اړ کړي دي. دولت ضد عناصر يې په ځواب کې په هغو سيمو کې عمليات پراخوي چې پخوا په کې جنګ جګړې نه وې. د ۲۰۱۰ کال په نومبر کې، ۱۱ نورې ولسوالۍ د لوړ خطر په توګه نومول شوي او ۳ نورې ولسوالۍ بيا د ملګرو ملتونو د عملياتي چارو پر وړاندې د خورا لوړ خطر په توګه درجه بندي شوي دي. په دې کې نه يوازې له ولسواليو سره نږدې سيمې چې د اوږدې مودې راهيسې د جګړه ايزو کړنو مرکز و شاملې دي، بلکې په شمال کې اکثريت سيمې هم پکې شاملې دي.

۵. په شمالي او لوېديځو ولايتونو کې د امنيتي عملياتو د زياتوالي په پايله کې، د دولت ضد عناصرو زيات شمير د بيا يوځای کيدو پروګرامونو سره د يو ځای کېدو په لټه کې دي. ياغيان د غبرګون ښودلو لپاره په زياتيدونکې توګه پر هغو کسانو بريدونه کوي چې له حکومت سره پخلاينه او بيا يوځای کيدل غوره کوي. په داسې حال کې چې د افغانستان په شمال کې پوځي لاسته راوړنې دوامداره ارزول کيږي، د دولت ضد عناصرو د پاتې کوچنيو ډلو لخوا د غير متناسب تاکتيکونو څخه کار اخيستلو له کبله به په دې سيمو کې د ملګرو ملتونو په ګډون د ډيرو ملکي سازمانونو لپاره لاسرسی محدود وي.

۶. افغان ملي امنيتي ځواکونه او نړيوال پوځونه په سويلي ولايتونو کې د هغو سيمو د ثبات په برخه کې د پرمختګ راپور ورکوي چې پخوا د ياغيانو تر کنټرول لاندې وې. ياغيانو د يادو سيمو له لاسه ورکولو په غبرګون کې د تاوتريخوالي او ډارولو يو نا انډوله کمپاين پيل کړی دی. د چاوديدونکو توکو د کشف د کچې د ښه والي او د ټولنو له خوا د همکارۍ د زياتوالي له کبله، ياغيانو ځانمرګي بريدونه زيات کړي چې په ملکي وګړو او مرستندويه موسسو باندې يو ډول اغېزې لري. په ورته وخت کې اورپکو پر دولتي او امنيتي بنسټونو بريدونو ته دوام ورکړی دی. د بېلګې په توګه، د اورپکو د يادو هڅو په لړ کې د جنورۍ په مياشت کې يو ځانمرګي بريد ترسره شو چې په پايله کې يې د کندهار مرستيال والي ووژل شو، همدا راز د فبرورۍ په مياشت کې په همدې ښار کې د پوليسو پر دوو مرکزونو دوه لوی همغږي بريدونه او په جلال اباد کې د ملکي کارکوونکو د معاش اخيستلو په ورځ د يوه بانک مخې ته ځانمرګی بريد وشو.

۷. افغان ملي امنيتي ځواکونو په خورا اغېزناکه توګه په کابل کې د اورپکو د بريدونو مخه نيولې ده، خو سره له دې په ۲۰۱۰ کال کې (د ۲۰۰۹ کال د ۱۲ بريدونو په پرتله) په پلازمينه کې په ټوليزه توګه ۱۳ ځانمرګي بريدونه شوي دي. د يادونې وړ ده چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ او ډسمبر ترمنځ موده کې په ياد ښار کې کوم ځانمرګی بريد شوی نه دی. که څه هم، د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۲۸ او د فبرورۍ په ۱۴ نېټه ځانمرګو بريدګرو د افغان او نړيوالو ځواکونو د لوړې کچې په دوو اهدافو باندې بريدونه وکړل، چې په لومړي بريد کې ۱۰ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۷ نور ټپيان شول او په دويم بريد کې دوه وسلوال ساتونکي چې هڅه يې کوله د بريدګرو مخه ونيسي، ووژل شول. په داسې حال کې چې دواړه پيښې په پلازمينه کې دننه د بريد کولو لپاره د اورپکو روښانه اراده څرګندوي، همدارنګه داوړه بريدونه ښيي چې د دوی ترمنځ د بريدونو د طرحه کولو او پلي کولو وړتيا کمه ده.

۸. د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ راتلونکې امنيتي دايمي کمېټې د جنورۍ ۱۶نېټې مقدماتي غونډه کې د ۲۰۱۲ کال تر نومبر مياشتې پورې له ۱۳۴۰۰۰ څخه ۱۷۰۰۰۰ ته د افغان ملي پوليسو او له ۱۷۱۰۰۰ څخه ۱۹۵۰۰۰ ته د افغان ملي اردو د شمېر زياتولو وړانديز وکړ. د ۲۰۱۱ کال تر جنورۍ مياشتې پورې د افغان ملي اردو شمېر ۱۵۲۰۰۰ او د ملي پوليسو شمېر ۱۱۸۰۰۰ و. يوناما په ټول هېواد کې د وړتيا پر بنسټ او له اقليتي پلوه متوازنې ګمارنې او استخدام پر اهميت او د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (ناټو) د روزنې ماموريت- د افغانستان او امنيتي لېږد ګډې قوماندانۍ – په افغانستان کې د افغانستان او اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت لخوا د روزنې پر ورکولو باندې لا هم ټينګار کوي.

۹. د کورنيو چارو وزير د ۲۰۱۱ کال په جنورۍ کې نوې جوړه شوې د پوليسو ملي ستراتيژي لاسليک کړه، ترڅو له دې وروسته د ملي پوليسو لپاره پلان جوړ کړي. ياده ستراتيژي د وزارت د پنځه کلنو ستراتيژيکو لومړيتوبونو سره سم، د دوامداره پرمختګ او د وزارت د عملياتو د وړتيا زياتولو لپاره لارښوونې وړاندې کوي. په دغو لومړيتوبونو کې روزنه او تعليم او تربيه، د پوليسو د رهبرۍ پرمختيا، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه، د پوليسو د ژوند سطحې او کاري شرايطو ښه والی، د اداري تشکيل بياکتنه او د امتيازاتو او انضباطي اقداماتو د يو سيستم جوړول شامل دي.

۱۰. يوناما د ټولنې پر بنسټ د پوليسو پروګرامونو لکه، افغان محلي پوليس په اړه لا هم افغان دولت او ايساف ته لارښوونې کوي څو د ټولنې د عامه پوهاوي لپاره مناسب اقدامات ترسره شي او د پوليسو د نويو ټولنيزو واحدونو له جوړولو مخکې د قوماندې او کنټرول ترتيبات برابر شي. د ۲۰۱۱ کال په فبروري کې د افغان محلي پوليسو اووم پړاو د کورنيو چارو وزير لخوا منظور شو، چې پر بنسټ به يې تر ۱۵۷۰۰ پورې کسان د دې پروګرام تر چتر لاندې په دندو وګمارل شي.

۱۱. د ۲۰۱۰ کال تر پايه د افغان حکومت لخوا د خصوصي امنيتي کمپنيو د بندولو او د کورنيو چارو وزارت اړوند د عامه ساتنې افغان ځواکونو ته د ساتنې مسووليتونو د سپارلو پريکړه د خصوصي امنيتي شرکتونو سره د موجوده قراردادونو څخه د وتلو لپاره د ميکانيزمونو په جوړولو کې د ستونزو له امله وځنډېده. زما ځانګړي استازي، نړيوالې ټولنې او ناټو د ټولو خصوصي کمپنيو د بندولو پرېکړې په ځواب کې له افغان ادارو او بنسټونو سره د امنيتي چارو مسؤليت په غاړه اخيستلو لپاره په څرګنده توګه د خپلې مرستې او ملاتړ ډاډ ورکړی دی. ټولې خواوې د يو داسې ميکانيزم پر جوړولو کار کوي چې د نړيوالو سازمانونو امنيت يا د اړتيا وړ مرستو رسولو لپاره د نړيوالې مرستندويه ټولنې پر وړتيا باندې منفي اغېزه ونکړي.

**ب. د ټاکنو پايلې**

۱۲. د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر په ۱۸ نېټه د ټاکنو د پايلو تر تائيد وروسته يو شمېر پياوړو نوماندانو په ولسي جرګه کې څوکۍ ترلاسه نکړې، چې د ټاکنو خپلواک کميسيون لخوا د رايو شمېرنو له مخې يې کمې رايې ګټلې دي او يا د درغلۍ شواهدو له کبله وړ نه دي بلل شوي.

۱۳. يو شمېر ناکامو نوماندانو د دوی د ټاکنيزو حوزو اړوند سيمو کې د ناامنيو له امله د درغليو او د رايو حق څخه د محروميت په هکله شکايت کړی، چې زياتره يې په هغو ولسواليو کې دي چې اکثريت وګړي يې پښتانه دي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د ټاکنو د تاييد سره سره، لويې څارنوالۍ د سلګونو شکايتونو دوسيو په راټولولو سره د څېړنې بهير پيل کړی دی. د دغو څېړنو په پايله کې د لويې څارنوالۍ له خوا د ټاکنو کميسيون ۱۴ چارواکي په درغليو کې په لاس لرلو تورن پېژندل

شوي چې د لیندۍ په ۱۳ مه یې دوسیې سترې محکمې ته واستول شوې. سترې محکمې د ډسمبر په ۲۱ نېټه د لوېي څارنوالۍ لخوا راټول شويو شکایتونو په ګډون د ټاکنو څخه راپورته شویو شکایتونو د بیاکتنې او ارزونې لپاره د قاطع واک په درلودلو سره د یوې ځانګړې محکمې د جوړولو اعلان وکړ. د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو اورېدو کمېسیون د ټاکنو په اړه د محکمې صلاحیت رد کړ او وېې ویل، چې د اساسي قانون او د ټاکنو قانون له مخې، د ټاکنو په اړه د دواړو ارګانونو پرېکړې وروستۍ دي. امنیت شورا د ډسمبر په ۲۲ نېټه په یوه رسنېزه اعلامیه کې د وروستیو پایلو د اعلان هر وکړ او هیله یې وښوده چې ټولې افغان ادارې او بنسټونه دې د اړوندو قوانینو او د افغانستان اساسي قانون سره سم د خپل واک په ټاکلې محدوده کې د خپلو کارونو ترسره کولو ته دوام ورکړي.

۱۴. ولسمشر کرزي د جنورۍ په ۱۹ د ولسي جرګې پرانیسته چې ټاکل شوې وه د جنورۍ په ۲۳ نېټه پرانیستل شي، د ځانګړې محکمې په مشوره چې د خپلو چارو د بشپړولو لپاره یې د اضافي وخت ورکولو غوښتنه کړې وه، د یوې میاشتې لپاره وځنډوله. د ولسي جرګې اکثریت نویو ټاکل شوو غړو، په قومي او سیمه ایزه توګه د یووالي په څرګندولو سره، د ولسي جرګې پرانیستلو غوښتنه وکړه چې له مهال ویش سره سم باید پرانیستل شي. یوناما او نړیوالې ټولنې د ولسي جرګې پر وخت پرانیستلو باندې ټینګار وکړ ترڅو اجراییه، مقننه او قضایه قوې وکولای شي خپلې چارې ترسره کړي.

۱۵. د ولسمشر، د ولسي جرګې د منتخبو غړو او ناکامو نوماندانو تر منځ د یو لړ ناستو په لړ کې، چې په ترڅ کې یې زما ځانګړي استازي د منځګړي په توګه رول ولوبوه، داسې یوې هوکړې ته ورسېدل چې په پایله کې یې د زمري په ۲۶ د ولسمشر کرزي له خوا د ملي شورا پرانیسته وشوه. که څه هم، د ځانګړې محکمې د نقش په تفسیر کې د اجراییه او مقننه قواوو ترمنځ اختلافات لا هم دوام لري، چې د دوی ترمنځ یې کړکیچ نور هم زیات کړی دی.

۱۶. د جنورۍ په ۲۶ نېټه د نوي ټاکل شوې ولسي جرګې او مشرانو جرګې د لوړې مراسم په ګډه غونډه کې ترسره شول، په داسې حال کې چې د مشرانو جرګې یو پر دریمه برخه سناتوران، چې ۳۴ تنه دي او د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي، لا هم نه دي ټاکل شوي. ولسمشر کرزي په خپله پرانیستونکې وینا کې د ملي یووالي پر ټینګښت او پر ځان بسیاینې ټینګار وکړ، چې د ولسي جرګې د غړو له خوا یې تود هرکلی وشو. ولسمشر د ولسي جرګې له غړو وغوښتل چې د هېواد د ټولو قومونو اندېښنو ته رسیدنه وکړي.

۱۷. د پایلو له تائید ۶۰ ورځې وروسته د جنورۍ په ۳۱ نېټه، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له قانون سره سم منحل شو. یاد کمیسیون په خپله وروستۍ رسنېزه اعلامیه کې د ټاکنو په وروستیو پایلو کې د غیرقانوني لاسوهنې هڅو د پایلو خبرداری ورکړ. د ټاکنو له قانون سره سم د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون شتمنۍ او واکونه د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته لېږدول شوي. د جنورۍ په وروستۍ اونۍ کې، دواړو ادارو د ترلاسه شوو تجربو عملي پروسه پیل کړه، چې باید د ټاکنیزو بنسټونو د پیاوړتیا او په افغانستان کې په کم لګښت او دوامداره توګه د ټاکنو ترسره کولو په موخه د اصلاحاتو د تعقیبولو څرنګوالي په هکله په ملي ډیالوګ کې مرسته وکړي.

۱۸. د لوېي څارنوالۍ پلټونکو د فبرورۍ په ۱۴ نېټه، په کابل کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرکزي دفتر ته له لسګونو پولیسو سره یو ځای وردننه شول او امر یې وکړ چې ټول ګودامونه چې د رایو صندوقونه په کې دي او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د معلوماتو مرکز دې مهر و لاک شي. د هېواد په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون ګودامونه چې د رایو صندوقونه په کې وو، مهر و لاک شول. په همدې ورځ د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یوې اعلامیې په خپرولو سره د لوېي څارنوالۍ

د وروستيو کړنو په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره له عدلي قضايي ارګانونو سره همکارۍ ته چمتووالی وښود. يوناما د فبرورۍ په ۱۵ نېټه د يوې اعلامیې په خپرولو سره د تېرې ورځې د پېښو په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه، چې کېدای شي په افغانستان کې د ټاکنيزو بنسټونو خپلواکې زيانمنه کړي. د فبرورۍ په ۲۰ نېټه لوېي څارنوالۍ د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته په ليکلي ډول خبر ورکړ چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون اجرائيوي رييس او يو کمېشنر دندې يې له ځانګړې محکمې سره د کافي همکارۍ له امله "ځنډولې" دي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون په ځواب کې ويلي، چې د قانون له مخې د دغو کسانو ګمارل يوازې د ولسمشر واک دی او د ولسمشر د دفتر له خوا له دندې ګوښه يا تعليق کېدای شي. د لوېي څارنوالۍ دغه اقدام ته بايد د ځانګړې محکمې له خوا په څو ولايتونو کې د رايو د بيا شمېرنې د هڅو په لړ کې وکتل شي، او دا هغه بهير دی چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د قانوني او عملي دلايلو له مخې رد کړی دی.

۱۹. نوې ملي شورا د خپل کار له پيل راهيسې د دواړو جرګو د مشرتابه ټاکلو ته پام اړولی دی. د جنورۍ په ۲۷ نېټه، د مشرانو جرګې له ۶۸ سناتورانو څخه ۶۵ يې چې د ولايتي شوراګانو له خوا د ټاکل شوي دي، د ولسمشر لخوا د ټاکل کېدونکو ۳۴ سناتورانو په غياب کې د مشرانو جرګې د نوي رئيس په توګه د يادې جرګې د پخواني مرستيال مسلم يار د ټاکلو په موخه غونډه وکړه. په ولسي جرګه کې، چې رهبري يې د اجماع له لارې نه بلکې د رايو له لارې ټاکل کېږي، د ولسي جرګې د رييس د ټاکلو پر سر اوږده بحثونه وشول. د رای ورکولو له ۱۶ ناستو وروسته چې ټولټال ۱۸ نوماندان پکې ګډون لري، حاجي عبدالرووف ابراهيمي چې د کندز له شمالي ولايت ازبک توکم څخه دی، د فبرورۍ په ۲۷ نېټه د يادې جرګې د رييس په توګه وټاکل شو.

۲۰. ولسمشر کرزي د فبرورۍ په ۱۹ نېټه د ۱۸ پخوانيو او ۱۶ نويو سناتورانو په ګډون د ولسمشر لخوا ټاکل کېدونکو ۳۴ سناتورانو نوملړ مشرانو جرګې ته وسپاره.

۲۱. د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام (UNDP) پروژه، چې له مخې يې ټاکنيزې مرستې برابرې شوې، اوس د ټاکنيزو بنسټونو د ظرفيتونو په لوړولو، د هغوی په اداري پوهې او تجربې او پايښت ساتلو او د هغوی د خپلواکۍ پر پياوړتيا متمرکزه ده. دا پروژه هڅه کوي چې د يادو بنسټونو تخنيکي او عملياتي ظرفيتونه لوړ کړي او يوه پايداره ټاکنيزه اداره رامنځته کړي چې په نړيوال ملاتړ لږه بسيا وي. بسپنه ورکوونکو د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام پروژې ته د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ نېټې پورې د بې لګښته تمديد لپاره ملاتړ څرګند کړ، او تر هغې به د يو پل په توګه کار وکړي تر څو د UNDP د ټاکنيز ملاتړ نوې پروژه جوړه شي.

## ج. بيا يو ځای کېدنه/پخلاينه

۲۲. د افغان حکومت لخوا د سولې او بيا يوځای کېدو هڅې، د سولې عالي شورا او د افغانستان د سولې او بيا يوځای کېدو پروګرام په ګډون، په چټکۍ سره دوام لري. د راپور ورکولو په موده کې د سولې عالي شورا کندهار، هرات، جلال اباد او اسلام اباد ته د پوهاوي د کچې د لوړولو او د سولې له بهير څخه د ملاتړ په موخه په لوړه کچه سفرونه ترسره کړل. يوناما د سلام ملاتړې ډلې له لارې دغو ماموريتونو ته لوژيستيکي مرستې برابرې کړې. د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ له ۴ څخه تر ۸ پورې پاکستان ته د سولې د عالي شورا سفر د بيا يوځای کيدو او پخلاينې په هڅو کې د سيمې د ښکيلتيا په اړه د افغان چارواکو تمرکز په ډاګه کړ. د دغه سفر په ترځ کې پر دې هوکړه وشوه، چې په افغانستان کې د بيا يوځای کېدو او پخلاينې د هڅو د پرمخ بيولو لپاره به د پاکستان او افغانستان لخوا د سولې يوه ګډه کمېټه جوړېږي. د سولې عالي شورا د فبرورۍ د ۲۲ او ۲۵ نېټې ترمنځ د

سیمې له هېوادونو سره د پخلاینې په اړه د خپلو بحثونو د دوام لپاره ترکیې ته سفر وکړ. د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام او د سولې عالي شورا ګډې دارالانشاء هم د افغانستان له یو شمېر ولایتونو څخه لیدنه وکړه ترڅو د بیا یوځای کېدو د ځانګړو پېښو په اړه معلومات ورکړي او د مدیریت په برخه کې یې مرسته وکړي.

۲۳. د سولې او بیا یوځای کېدو ولایتي کمېټې اوس په ۲۷ ولایتونو کې جوړې شوې دي، چې دولتي چارواکي، قومي مشران او دیني عالمان پکې شامل دي. د دوی لومړنۍ موخې پوهاوی رامنځته کول، د باور رامنځته کولو فعالیتونه، خبرې اترې او د شکایتونو حل دي. کمېټو ته اړینه بودیجه په واک کې ورکړل شوې او اوس خپلې چارې پېلوي. د فبرورۍ په ۹ نېټه، د ننګرهار، کونړ، نورستان او لوګر ولایتونو د سولې او بیا یوځای کېدو ولایتي کمېټو غړو د پروان له توقیف خونې څخه لیدنه وکړه ترڅو د محکومو دولت ضد عناصرو د توقیف وضعیت له نږدې وګوري. د بلخ ولایت د سولې او بېرته یوځای کېدنې ولایتي کمېټې د بلخ او چهاربولک ولسوالیو په دوو جګړه ځپلو سیمو کې د عامه پوهاوي فعالیت پیل کړ، چې د ولسونو او پخوانیو قوماندانانو سره یې ناستې وکړې او له هغوی یې وغوښتل چې د سولې له بهیر څخه ملاتړ وکړي.

۲۴. وسلوالې ډلې چې کله کله په لسګونو یا لږ کسان پکې شامل وي، په ځانګړې توګه په شمال کې په لږو جګړه ځپلو ولایتونو کې د بیا یوځای کیدو له بهیر سره یوځای کیدو ته دوام ورکوي. د ګډې دارالانشاء د معلوماتو له مخې، تر دې دمه ۹۶۰ تنه له یاد بهیر سره یو ځای شوي دي. د دې پرمختګ لامل په ګډه د امنیتي ځواکونو هڅې او د ولایتي چارواکو لخوا پوهاوی ښودل شوی دی، او دا چاره د افغان چارواکو لخوا د مالکیت او رهبرۍ یوه هڅونکې بېلګه ده. که څه هم په ځینو سیمو کې د دې هڅې بریا د دې لامل شوې چې اورپکي د هغو ټولنو او اشخاصو په وړاندې چې له حکومت سره یې د پخلاینې لار غوره کړې، د وېرې کمپاین زیات کړي.

۲۵. په ملي کچه، د مالي څارنې کمېټې چې ګډې دارلانشاء ته راپور ورکوي او د مالیې وزیر، د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کېدنې پروګرام اجرایوي رییس او دوه بدلېدونکې تمویلوونکې یې غړي دي، تر اوسه اووه پروژې منظورې کړي دي. د دغو پروژو له ډلې شپږ یې په وزارتونو او ریاستونو کې د پروګرامونو د پراختیا په برخه کې د مرستې او همکارۍ لپاره د ځانګو جوړول دي. د ماین پاکولو یوه پروژه هم په بادغیس کې منظوره شوې ده، چې موخه یې په کاري ځواک کې د بیا یوځای شویو افرادو شاملول دي.

۲۶. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) د افغان سولې او بیا یو ځای کېدو پروګرام پلي کولو لپاره، چې د نړیوالو مالي مرستو د لېږد لپاره د درېو لویو کړکیو څخه یوه اداره کوي، ګډې دارالانشاء ته تخنیکي مرسته چمتو کوي چې یاده مرسته ټولټال ۷۲ میلیون ډالر کېږي. د ګډې دارالانشاء ظرفیت د پالیسۍ، پروګرامونو او عملیاتي خدماتو په برخو کې د نړیوالو او ملي متخصصینو په ملاتړ نور هم پیاوړی شوی دی. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام هم د ۸ ولایتونو لپاره د مالي مرستو په عملي کولو کې له ګډې دارالانشاء سره مرسته کړې او په ۱۳ نورو ولایتونو کې هم پرې کار روان دی. د حکومت او UNDP د متخصصینو یوه ډله د حکومت د ملاتړ لپاره لنډ مهاله او اوږدمهاله پایښت لرونکې پروژې په لاره اچوي ترڅو په بریالیتوب سره د افغان سولې او بیا یو ځای کېدو پروګرام په پلي کولو کې له حکومت سره مرسته او همکاري وکړي.

۲۷. د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د امنیت دایمي کمېټې د سولې او بیا یو ځای کېدو ځانګړې فرعي کمېټې لومړۍ غونډه د جنورۍ په ۲۲ نېټه د سولې عالي شورا د رئیس برهان الدین رباني او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کېدو پروګرام څخه د وزیر ستانکزي په حضور کې جوړه شوه. په دې غونډه کې دوی یادونه وکړه چې وسله والو مخالفینو د سولې وروستیو هڅو

ته لېوالتیا ښودلې او زیاته کړې یې ده چې د باور رامنځته کولو لپاره به لا زیاتو هڅو ته اړتیا وي. دوی ټینګار وکړ چې د بیا یو ځای شوو جنګیالیو د شمېر په پرتله په امنیتي وضعیت کې د پام وړ ښه والی راغلی دی. همدارنګه دوی د سیاسي بهیر لپاره د اجماع جوړولو او د پروګرام د پلي کولو پر وړاندې د شته ننګونو او ستونزو یادونه هم وکړه.

## د. سیمه ایزه همکاري

۲۸. د افغانستان حکومت د راپور ورکولو مودې پر مهال د سیمې له هېوادونو سره د امنیت، اقتصادي پراختیا او سوداګرۍ په برخو کې د همکاریو هڅو ته دوام ورکړی دی. د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۱۱ نېټه ولسمشر کرزي په عشق آباد کې د بین الحکومتي تړون او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند د ګازو د پایپ لاین لپاره د ګازو د پایپ لاین تړون اړوندې په لاسلیکولو کې ګډون وکړ چې د افغانستان له لارې به له ترکمنستان څخه طبیعي ګاز پاکستان او هند ته لېږدوي. همدارنګه د راپور ورکولو په موده کې د افغانستان-پاکستان ترانزیتي سوداګرۍ تړون په رسمي توګه تصویب شو.

۲۹. ولسمشر کرزي د ډسمبر په ۲۳ نېټه په استانبول کې د اقتصادي همکاریو د سازمان (ECO) په یوولسمه سرمشریزه غونډه کې ګډون وکړ. نوموړي د اقتصادي همکاریو د سازمان لیدلوري ۲۰۱۵ پلي کولو ته د افغانستان چمتووالي ته اشاره وکړه چې په سیمه کې د آزادې سوداګرۍ ساحې رامنځته کولو وړاندوینه کوي او د ایکو د پانګونې د ودې او د خصوصي سکتور د پرمختیا غوښتنه یې وکړه. ولسمشر د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک سره د یوځای کېدو لپاره د افغانستان چمتووالی اعلان کړ.

۳۰. د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۲۴ نېټه په استانبول کې د افغانستان، پاکستان او ترکیې د ولسمشرانو په درې اړخیزه غونډه کې د ترکیې او پاکستان ولسمشرانو د کابل له بهیر سره خپل ملاتړ څرګند کړ. یادو ولسمشرانو په درې اړخیزه بڼه د پراختیا، روزنې، ښوونې او روزنې، د اداري ظرفیت لوړولو او امنیتي همکاریو په برخو کې د خپلو همکاریو پر دوام هوکړه وکړه. همدارنګه دوی په استانبول کې د ۲۰۱۱ کال د مارچ له ۱۹ څخه تر ۲۷ پورې په ښاري جګړو کې لومړني درې اړخیزه ژوندي نظامي تمریناتو لپاره پلانونه اعلان کړل. ولسمشر کرزي د فبرورۍ په ۲ او ۳ نېټه هند ته هم سفر وکړ او د ډهلي دوامداري پراختیا په سرمشریزه کې یې ګډون وکړ.

۳۱. د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول د جنورۍ په ۲۷ او ۲۸ نېټه پاکستان ته سفر وکړ او په یوه ګډه خبري غونډه کې له ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه د ګډ کمېسیون د جوړېدو اعلان وشو. د دې کمیسیون مشري به د بهرنیو چارو وزیران کوي او لوړ پوړي ډیپلوماتان، پوځي او استخباراتي چارواکي او د سولې د عالي شورا مرستیال به یې غړي وي. د لیدنې پر مهال د پاکستان د پلان جوړونې کمیسیون او د افغانستان د اقتصاد وزارت ترمنځ د مشورتي بهیر پر جوړولو هم هوکړه وشوه، څو دوه اړخیزې ګټه رسونکې پروژې وپلټي.

۳۲. افغانستان او ایران د دوه اړخیزو همکاریو، په ځانګړې توګه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، کډوالو کارګرانو او د ریل پټلۍ جوړولو په برخه کې خپلو خبرو ته دوام ورکړی دی. د راپور ورکولو په موده کې د ایران او افغانستان د لومړي سوداګریزې نندارتون پلان هم ترتیب شوی چې د مارچ په میاشت کې به په تهران کې ترسره شي.

۳۳. زما ځانګړي استازي د جنورۍ په ۱۸ او ۱۹مه تهران ته سفر وکړ او هلته یې له ایراني لوړ پوړو چارواکو سره له ایران څخه افغانستان ته د نفتي موادو د لېږد، په ایران کې د اټکل له مخې له ۱.۲ څخه تر ۲ میلیونو پورې د بې اسنادو افغان کډوالو

د شتون او د نشه يي توکو د کنټرول په تړاو خبرې وکړې. د فبرورۍ له ۸ نېټې څخه تر ۱۱ نېټې پورې پاکستان ته د خپل درېيم سفر په ترڅ کې، زما ځانګړي استازي او د هغه سره د بحث ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ د سولې د هر اړخيز بهير په ملاتړ د يوناما د رول په اړه خبرې وکړې.

**درېيم: بشري حقونه**

۳۴. يوناما په ۲۰۱۰ کال کې د جنګ جګړو اړوند ۷۱۲۰ ملکي تلفات (۲۷۷۷ تنه مړه او ۴۳۴۳ تنه ټپيان) ثبت کړي، چې د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۹ سلنه زياتوالی ښيي. له دې ډلې ۵۴۴۶ ملکي تلفات د دولت ضد مخالفو ډلو سره تړاو لري، د ټولټال ملکي تلفاتو ۷۶ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د عملياتو په پايله کې ۸۴۰ ملکي تلفات رامنځته شوي (د ټول شمير ۱۲ سلنه). پاتې ۱۲ سلنه يې په حکومت او وسلوالو مخالفينو پورې تړاو نه لري. په ۲۰۱۰ کال کې د ملکي تلفاتو د ټوليز زياتوالي اصلي لامل د ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو کارول، د دولت ضد عناصرو لخوا هدفي وژنې او په ځانګړې توګه په سويلي ولايتونو کې د پوځي عملياتو زياتوالی ګڼل کېږي. که څه هم په ۲۰۱۰ کال کې د نړيوالو ځواکونو شمېر زيات شوی، خو د ۲۰۰۹ کال په پرتله د دغو ځواکونو له کبله رامنځته کېدونکي ملکي تلفات ۲۱ سلنه کم شوي دي.

۳۵. د ملکي تلفاتو ډېره برخه په جنوب او جنوب ختيځو سيمو کې رامنځته شوې ده. د ګڼې ګوڼې سړکونو ترڅنګ ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي او په ملکي سيمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ځانمرګي بريدونه د ملکيانو د مرګ ژوبلې تر ټولو لوی شمېر جوړوي. د دولت پلوه ځواکونو د کاروانونو، ودانيو او پرسونل په نښه کولو ځانمرګي بريدونه هم د ملکي تلفاتو د رامنځته کېدو لامل شوي دي. همدارنګه د دولت ضد عناصرو هم د ملکي ځايونو په نښه کولو لپاره د ځانمرګو بريدونو څخه کار اخيستی، چې يوه بېلګه يې د جنورۍ په ۲۸ نېټه پر کابل سوپر مارکيټ بريد دی (پورته ۷ پاراګراف وګورئ). دولت پلوه ځواکونو د دولت ضد عناصرو په نښه کولو لپاره هوايي بريدونه او شپني عمليات کړي، چې کله ناکله په کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي او کورونه يې زيانمنېږي. ايساف او حکومتي چارواکي لا هم د زيانونو د جبران ادعاوې په پام کې نيسي او د ملکي تلفاتو د ډېرې پېښو په اړه يې ګډې څېړنې پيل کړې دي.

۳۶. د ۲۰۱۰ کال په ډسمبر مياشت کې د ناوړه عنعنوي دودونو او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون د تطبيق په هکله د يوناما د راپور له خپرېدو وروسته، د يوناما ماموريت د حکومت له استازو، مدني ټولنې او نورو ښکېلو اړخونو څخه وغوښتل چې دا ډول کړنې پای ته ورسوي او د خونديتوب ميکانيزمونو کې ښه والی راولي. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق (UNFPA) د کورنيو چارو وزارت او د اروپايي ټولنې د پوليسو په همغږۍ د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالی د مخنيوی لپاره روزنيز لارښود جوړ او خپور کړ، چې د افغانستان د پوليسو اکاډمۍ اوس ياد لارښود په خپل روزنيز نصاب کې شامل کړی دی.

۳۷. افغان حکومت د جنورۍ په مياشت کې د ښځو د خونديتوب د مرکزونو يا امن خونو په هکله يوه ترتيب شوې مقرره خپره کړه، چې د ښځو لپاره د سرپناه په په تړاو د حکومت د بشپړ کنټرول غوښتنه کوي. د ښځو د خونديتوب مرکزونه او سرپناوې د زيان منونکو ښځو او نجونو لپاره چې په افغانستان کې له تاوتريخوالي او ناوړه ګټه اخيستنې سره مخ دي، يو مهم خدمت وړاندې کوي. پداسې حال کې چې د دې مقررې مسوده د ښځو د خونديتوب مرکزونو د اهميت د منلو او د معيارونو د ټاکلو په لور يو مثبت ګام دی او د جنسيت په اړه ځينې حساس حکمونه او موارد پکې شامل دي، ځينې هغه موارد هم په کې شامل دي چې د بشري حقونو او د ښځو د حقونو سازمانونو پورې اړه لري. د جزايي قانون د اصلاح کاري ډله چې د عدليې

وزارت له خوا د جزايي قوانينو او مقرراتو د مسودې په هکله د افغان او نړيوالو کارپوهانو د نظرونو اخيستلو لپاره جوړه شوې او د لوېي څارنوالۍ، کورنيو چارو وزارت، عدليې وزارت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون استازي پکې شامل دي، د حکومت د پاملرنې او غور لپاره د دې انديښنو د حل په موخه د مقررې پر دې مسوده د بياکتنې وړانديز کړی دی.

۳۸. افغان حکومت د ښځو پر وړاندې د تبعيض د له منځه وړلو کمېټې ته خپل راپور وروستی کوي. د جنسيتي برابرۍ او د ښځو د ځواکمنتيا لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UN-Women) د بهرنيو چارو وزارت سره مرسته کوي څو د دې مسودې په اړه د روزنې او د وزارتونو ترمنځ مشورو له لارې د راپور چمتو کولو لپاره همغږي وکړي او دا چاره مديريت کړي.

۳۹. د افغانستان په زندانونو کې د بنديانو شمېر مخ په زياتيدو دی. په ۲۰۰۱ کال کې په ټول هېواد کې يوازې ۶۰۰ تنه بنديان وو. د ۲۰۰۷ کال تر اکتوبر پورې، دا شمېره ۱۰۶۰۴ تنو ته رسيدلې وه. د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ رسمي شميرې ښيي چې په مرکزي زندان کې ټولټال ۱۹۹۷۰ تنه محکوم شوي غير محکوم شوي بنديان شتون لري، چې ۵۹۷ ميرمنې او ۲۸۱ ماشومان هم پکې شامل دي. د يادونې وړ ده چې د زندانيانو په شمېر کې زياتوالی د شاوخوا ۱۰۰۰۰ زندانيانو لپاره جوړ شوي سيستم باندې لا زيات فشار اچوي او د دوی ژوند ستونزمنوي.

۴۰. د افغانستان د تنفيذي او امنيتي ځواکونو له خوا خپلسري توقيف يوه داسې انديښنه ده چې په عدلي او امنيتي ارګانونو کې د قانون پر حاکميت او د خلکو پر باور منفي اغيز کوي. يوناما د ملي امنيت په رياست او د عدليې وزارت په تاسيساتو کې د ناوړه چلند، اوږد مهاله توقيف پرته له تورونو او محاکمې، مجرد توقيف او مدافع وکيل ته د نه لاسرسي تورونو په اړه خبرونه ترلاسه کوي. په ځينو تاسيساتو کې په شرايطو او چلند کې ښه والی ليدل شوی، په ځانګړې توګه په هغو ځايونو کې چې د ظرفيت لوړولو او زيربنايي پروژې شتون لري. د ملي امنيت رياست د ۲۰۱۰ په وروستيو کې په ټول هيواد کې له بنديانو سره د ناوړه چلند د شرايطو او تورونو د څېړنې لپاره د څارنې کميسيون جوړ کړ.

۴۱. د سولې، بيا يوځای کېدو او پخلاينې په بهيرونو کې د مدني ټولنې د ښکيلتيا زياتولو لپاره هڅې زياتې شوي دي. يوناما د افغانستان د سولې او بيا يوځای کېدو پروګرام په چوکاټ کې د انتقالي عدالت په مسايلو کې د مدني ټولنې ښکيلتيا ته لاره هواره کړې ده. د مدني ټولنې ډلو غوښتنه وکړه چې د سولې، عدالت او پخلاينې په اړه د دوی د ۲۰۱۰ کال د نومبر په کنفرانس کې شوي وړانديزونه چې د يوناما لخوا يې هم مالي ملاتړ شوی، بايد پلي شي. همدارنګه د سولې عالي شورا او د هغې له ګډې دارالانشاء څخه د منظمو خبرو اترو غوښتنه شوې ده. يوناما د مدني ټولنې د هڅو ملاتړ وکړ څو د سولې او بيا يوځای کيدو ولايتي کميټو سره مرسته وکړي او ګډ هدف دا دی چې ډاډ ترلاسه شي چې د افغانستان د سولې او بيا يوځای کېدو پروګرام ميکانيزمونه اوس يا راتلونکي کې د بشري حقونو د جدي سرغړونو قربانيانو د عدالت غوښتنې مخه نه نيسي.

۴۲. يوناما او نړيوالو بسپنه ورکوونکو د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون لپاره د دولت په بوديجه کې د تمويل ميکانيزم رامنځته کولو لپاره د کابل بهير د ژمنو پوره کولو لپاره له حکومت سره کار وکړ. د دې ميکانيزم موخه د کميسيون مالي او عملياتي خپلواکي خوندي کول دي. د ماليې وزارت د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۱۳ نېټه اعلان وکړ چې حکومت د دې کميسيون لپاره ۱ ميليون ډالر بوديجه ځانګړې کړې، په دې شرې چې د ۲۰۱۲/۲۰۱۱ کلونو بوديجه د ولسي جرګې لخوا تصويب شي.

۴۳. د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۳۰ نېټه، د افغان ملي امنيتي ځواکونو په ليکو کې د کم عمره ځوانانو د استخدام د مخنيوي لپاره کاري پلان د بهرنيو چارو د وزير او زما د ځانګړي استازي لخوا د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره زما د ځانګړې استازې مېرمن راديکا کوماراسوامي په حضور کې لاسليک شو. حکومت په پوځ، پوليسو، استخباراتو او محلي پوليسو کې د کم عمره کسانو د استخدام مخنيوي ته ژمن دی. دغه راز د امنيتي ځواکونو لخوا د ماشومانو پر وړاندې د جنسي تيري، او د نړيوالو

بشردوستانه قوانینو په سرغړونو کې د مرګ ژوبلې مسایلو ته د رسیدو ژمنه هم ورکوي. په ورته وخت کې، د ماشومانو او وسله والو شخړو لپاره زما ځانګړې استازي د علماوو شورا، د سولې عالي شورا، ایساف، د ناټو له لوړ پوړي ملکي استازي، بسپنه ورکوونکو او د بشري حقونو له فعالینو څخه د کاري پلان د ملاتړ لپاره ژمنې ترلاسه کړې. د سولې عالي شورا د افغان سولې او بیا یوځای کېدو په پروګرام کې د ماشومانو د ادغام او د هغوی له لیکو څخه د ماشومانو د سملاسي خوشې کولو په اړه د غیر دولتي فعالینو سره د خبرو اترو اړتیا مهمه بللې ده.

۴۴. د ماشومانو د حقونو کمیټې د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۱۸ نېټه د ماشوم د حقونو کنوانسیون د تطبیق په اړه د افغانستان لومړنی راپور تر کتنې لاندې ونیو. د عدلیې وزارت د مرستیال په مشرۍ یو لوړ پوړی دولتي پلاوی په دې مناسبت جینوا ته تللی دی. دا بحث د ماشومانو اړوند ډیری قوانینو، پالیسیو، ستراتیژیو او پروګرامونو په اړه د همغږۍ او د حکومت د مالکیت پر نشتوالي متمرکز و.

۴۵. د جنورۍ په ۲۸ نېټه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ماشومانو د حقونو کمیشنره، مېرمن حمیده برمکي په کابل کې په یو برید کې ووژل شوه. مېرمن برمکي د ماشومانو د جنسي تیري او د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د کم عمره ځوانانو د استخدام د مخنیوي په خاطر د حکومت او ملګرو ملتونو تر منځ د هوکړو په زیاتېدو کې مهم رول لوبولی و.

۴۶. د پوهنې وزارت د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق (یونیسف) په همکارۍ په ناامنو سیمو کې د ۴۰۰۰ ښوونځیو د مدیریت له کمېټو سره مرسته کوي. د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کلونو کې په ناامنو سیمو کې د وسله والو له خوا د ۶۷۰ تړل شوو ښوونځیو له ډلې نږدې ۳۰۰ یې بېرته پرانیستل شوي دي. د پوهنې وزیر په دې باور دی، چې دا د تېر مهال په پرتله یو مهم بدلون دی چې ښکاري وسله والو مخالفینو د نجونو د زده کړې په اړه خپل دریځ بدل کړی دی.

۴۷. د افغان حکومت په غوښتنه، د ملګرو ملتونو پروژو خدمتونو دفتر (UNOPS) د ۲۰۱۱ کال په جنورۍ کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د معلولینو د ملاتړ پروګرام جوړ کړ. دغه څو کلن پروګرام د افغانستان د معلولیت ملي کاري پلان د پلي کولو په ترڅ کې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو، پوهنې او عامې روغتیا وزارتونو په ملاتړ پلی کیږي. دا پروګرام له حکومت سره د ظرفیت او اړتیا وړ جوړښتونو په زیاتولو کې مرسته کوي چې په ټول افغانستان کې د معلولیت خدمتونو ته د لاسرسي او پلي کولو په برخه کې زیاتوالی راولي.

**څلورم: د کابل بهیر تطبیقول او د مرستو انسجام**

۴۸. د افغانستان حکومت د راپور ورکولو په موده کې د کابل بهیر پلي کولو ته دوام ورکړ. د دې بهیر یو مهم عنصر د ملي لومړیتوب د ۲۲ پروګرامونو جوړول دي، چې د افغانستان د لومړیتوب لرونکې پرمختیایي اجنډا چوکاټ دی. دا پروګرامونه د روانو فعالیتونو او ملي پروګرامونو پر بنسټ جوړیږي، لکه د ملي پیوستون پروګرام، چې د پام وړ ملموسې پایلې یې درلودلې دي. په دې کې د فعالیت نوې ساحې هم شاملې دي لکه، په افغانستان کې د استخراجي صنایعو د ودې د ملاتړ لپاره د یوې پالیسۍ او تقنیني چوکاټ جوړول. د ملي لومړیتوب هر پروګرام یوه درې کلنه ستراتیژي لري چې په کې پلان شوي خدمتونه، مهالویش او د بسپنه ورکوونکو اړین تمویل شامل دي. د ۲۰۱۰ کال په جولای کې د کابل په کنفرانس کې د ټاکل شوي وخت چوکاټ کې د ملي پروګرامونو د پراختیا په برخه کې د حکومت لخوا یوه په ګوته شوې ننګونه د دوی محدود تخنیکي ظرفیت دی.

۴۹.	د ملي لومړيتوبونو شپږ پروګرامونه توضيح او لګښت یې ورکړل شوی او له بسپنه ورکوونکو سره هم مشورې پیل شوي دي. له دغو لومړيتوبونو څخه دوه پروګرامونه (د عامه مالي مدیریت او اقتصادي اصلاحاتو او د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام) منظور شوي او تطبیق یې پیل شوی دی. د عامه مالي مدیریت پروګرام د حکومت او نړیوالې ټولنې لخوا د نورو ټولو پروګرامونو د بریالي پلي کولو لپاره مهم ګڼل کیږي. د بودیجې د طرحې او تطبیقولو لپاره د اغېزمن ظرفیت پرته، خلکو ته د لومړیتوب خدمتونو پلي کولو او رسولو لپاره به د حکومت د وزارتونو وړتیا له سختو خنډونو سره مخ شي. اغېزمن عامه مالي مدیریت هم د بسپنه ورکوونکو لپاره یو شرط دی څو له مخې یې دوی د دولت اصلي بودیجې ته بسپنې ورکړي. د دې لومړیتوب پروګرام تر وخته پورې تجربه د اړوندو وزارتونو او تمویل کوونکو شریکانو ترمنځ د لومړنیو مشورو ارزښت په ډاګه کوي څو د حکومت د لومړیتوبونو تر شا اجماع او ژمن مالي ملاتړ ډاډمن کړي.

۵۰.	ولسمشر کرزي په فبرورۍ میاشت کې په نړیوالو بسپنه ورکوونکو باندې غږ وکړ چې د لومړیتوب له مخې د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو ملاتړ وکړي څو د ښې حکومتولۍ او د اساسي خدمتونو وړاندې کولو ډاډ ترلاسه شي. د کابل بهیر د تطبیقولو په برخه کې پرمختګ به د ۲۰۱۱ کال په اوږدو کې د دولت په ټولو کچو کې د عامه مالي او اداري ظرفیت سره د مرستې لپاره د نویو او منسجمو هڅو ترسره کول لازمي کړي.

۵۱.	د نړیوالو شریکانو ژمنې چې په دوامداره توګه د پراختیایي مرستو ۵۰ سلنه د افغانستان د بودیجې له لارې ولګول شي او همدارنګه د حکومت د لومړیتوبونو پروګرامونو ته د ۸۰ سلنې مرستې برابرول د حکومت او بسپنه ورکوونکو لپاره یوه مهمه موضوع ده. د ۱۳۹۰ لمریز کال د ملي بودیجې د نهایي کولو لپاره چمتووالی (د ۲۰۱۱ کال د مارچ له ۲۱ څخه تر ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۱۹ پورې)، چې ولسي جرګې ته د فبروري په ۸ نېټه وړاندې شوه، حکومت له ټولو پراختیایي شریکانو سره د اوسنیو او راتلونکو پلان شوو مالي ژمنو په اړه دوه اړخیز بحثونه وکړل. نړیوالو شریکانو د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د هیوادني پروګرام په دوامداره نشتوالي اندیښنه څرګنده کړې، چې کېدای شي د پراختیا لپاره د تمویل او د اصلاحاتو ژمنو پوره کولو مخه ونیسي. د نوي پروګرام جوړول، د کابل بانک سره د معاملو د څرنګوالي په اړه چې دیوالي اعلان شوی دی، د حکومت او پیسو نړیوال صندوق تر منځ په هوکړې پورې تړلی دی. د پیسو نړیوال صندوق یو پلاوي د فبرورۍ په نیمايي کې کابل ته راغی ترڅو له حکومت سره مذاکراتو ته دوام ورکړي. که څه هم د دې اصولو په اړه د نظرونو توافق و چې د بحران د حل لپاره ترټولو چټکه لاره د بانک پلورل دي، خو په دې اړه هیڅ توافق شتون نلري چې پلور باید څنګه تمویل شي. د پیسو نړیوال صندوق د پروګرام په نشتوالي کې، د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د هڅونې پروګرام لپاره شاوخوا ۷۰ میلیون ډالر تمویل، چې په مستقیم ډول د اقتصادي حکومتولۍ او د پالیسۍ اصلاحاتو په برخه کې د دولت فعالیتونه تمویلوي، کېدای شي ورنکړل شي. د افغانستان د بیارغونې صندوق د دوامداره لګښت تمویل کړکۍ په وړاندې راتلونکې ادایني او تمویلونه هم تر بحث لاندې دي. که چیرې د کابل بانک او د پیسو نړیوال صندوق د هیواد په کچه نوي پروګرام په اړه کومې هوکړې ته ونه رسیږي، دوه اړخیز تمویلوونکي باید خپلې مرستې وځنډوي یا یې بیرته پیل کړي.

۵۲.	د امنیتي، سیاسي او حکومتولۍ د ننګونو پر وړاندې د حکومت د لومړیتوب لرونکي پرمختیایي اجنډا تر شا د سیاسي حرکت د ساتلو اهمیت د وزیرانو ځانګړې غونډې یو لامل و، چې د فبرورۍ له ۱۰ څخه تر ۱۲ پورې په جلال آباد کې د حکومت لخوا ترتیب شوې وه. په دغه ځانګړې ناسته کې د کابینې ۲۲ وزیران او لوړ پوړي چارواکي د ملي پروګرامونو او د بودجې د اجرا په برخه کې د پرمختګونو د بیا کتنې او همدارنګه د انتقال د پروسې په اړه د بحث لپاره سره راغونډ شول. د حکومت د بیاکتنې او بحث بنسټ د څارنې چوکاټ دی چې د مالیې وزارت لخوا پر مخ وړل کیږي، یعنې د هر ملي لومړیتوب پروګرام لپاره د ۱۰۰

ورځني تدريجي کاري پلانونو په اساس. د څارنې په دې چوکاټ کې د هغو ژمنو په اړه پرمختګونه شامل دي چې د ٢٠١٠ کال د لندن او کابل په کنفرانسونو کې د حکومت لخوا ترسره شوي، او د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ لخوا د بياکتنې بنسټ جوړوي.

٥٣. افغانانو ته د امنيتي مسؤليتونو د لېږد بهير، چې د کابل د پراخې پروسې يو له مهمو عناصرو څخه دی، د ٢٠١١ کال په لومړيو مياشتو کې يو څه چټک شو. د لېږد لپاره د نوماندانو د لومړۍ ډلې انتخاب په ولايتونو او ولسواليو کې د ناټو/ايساف او همدارنګه د حکومت لخوا د ډاکټر اشرف غني په مشرۍ چې د لېږد د همغږۍ کميسيون مشر دی، د څو مياشتو ارزونو پر بنسټ ترسره کيږي. ډاکټر غني د يوناما په ملاتړ باميان، هرات، بادغيس او بدخشان ته د سياسي، امنيتي، پرمختيايي او حکومتولۍ د شرايطو د ارزونې او په هر ولايت کې د ګواښونو، خطرونو او فرصتونو د پېژندلو په موخه سفرونه وکړل. ناټو/ايساف او د هغوی افغان همکارانو د ليږد لپاره د ولسواليو، ولايتونو او ښاروااليو د چمتووالي په اړه د دوی د همکارۍ مثبت ماهيت او پياوړې اجماع باندې ټينګار کړی دی.

٥۴. څرګنده ده چې د ليږد پايښت د پرمختګ، د قانون حاکميت او حکومتولۍ په برخه کې د پرمختګ کچې پورې اړه لري. حکومت ټينګار کړی چې ليږد په يوه اغېزمن افغان دولت کې د پراخ بدلون په لور يو ګام دی چې د نړيوالې ټولنې سره د اوږد مهالو همکاريو له لارې منځته راتلای شي. د لېږد او د افغانستان د ملي پرمختيايي لومړيتوبونو ترمنځ د اړيکو په هکله د پورته ذکر شوي وزيرانو د ځانګړې ناستې پر مهال خبرې وشوې، چې په ترڅ کې يې په دې اجماع رامنځته شوه چې راتلونکې درې کاله د حکومت او نړيوالې ټولنې د هڅو د روښانه لومړيتوبونو تر شا د هڅو د بسيجولو لپاره يو مهم فرصت وړاندې کوي، او د هغو ملي پروګرامونو له لارې ترسره کېږي چې د افغانستان په ښاري مرکزونو او کليوالو سيمو کې خلکو ته د پام وړ ګټې رسوي. د زيربناوو د پراختيا په برخه کې د لا زيات تمرکز او همغږۍ هڅو اړتيا هم په ګوته شوه. بله موضوع چې د حکومت لخوا پرې ټينګار شوی د ليږد په جريان کې د موازي جوړښتونو او بهيرونو، په ځانګړې توګه په سيمه ايزه کچه د رامنځته کيدو د مخنيوي اړتيا ده. هغه څه چې د ليږد لپاره په پلان جوړولو کې د اهميت وړ دي، د ولايتي بيارغونې ټيمونو لخوا د سيمه ايزو چارواکو د ملاتړ لاره چاره ده او د ولايتونو او ولسواليو په کچه خپل فعاليتونه او د حکومت لومړيتوبونو او بوديجې ميکانيزمونو تمويل تنظيموي او په تدريجي ډول پاتې دندې افغان ادارو ته ليږدوي.

٥٥. يوناما د دولت لخوا نيول شوو تصميمونو او د ناټو، ايساف او حکومت لخوا د ګډې پلان جوړونې بهير ملاتړ کوي. د لېږد د بهير پر وړاندې د يوناما ماموريت تګلاره په دريو اصولو ولاړه ده: د افغانانو مالکيت او د افغانانو رهبري، پايښت د پلان جوړونې او تطبيق لپاره د يو اساس په توګه، او د ښکيلو اصلي لوبغاړو ترمنځ بشپړتيا. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو اداري، بسپنې او پروګرامونه د خپلو سکتوري فعاليتونو او په ولايتونو کې د خپل حضور بياکتنه کوي ترڅو هغه سيمې وپېژني چې په کومو برخو کې دوی د لاسرسي او نسبي اړتيا پر بنسټ نسبي ګټې لري او په وروسته پاتې خو باثباته ولايتونو تمرکز کوي. ملګري ملتونه به په دې برخو کې د محلي لومړيتوبونو او اړتياوو په پيژندلو او طرحه کولو کې له محلي چارواکو سره د مرستې لپاره خپلې هڅې پياوړې کړي او په اغيزمنه توګه به د محلي پراختيايي فعالانو ترمنځ همغږي رامنځته کړي.

٥۶. يوناما د افغان مالکيت او د مرستو د همغږۍ د رهبرۍ اصل پر بنسټ په منسجمه توګه د پلان جوړولو او مرستو رسولو ته دوام ورکوي. دا ماموريت د ماليې وزارت سره په ګډه د تمويلوونکو ادارو د مشرانو اوونيزو غونډو ترتيبولو مسؤليت په غاړه لري او د ملي لومړيتوبونو پروګرامونو په اړه د تمويلوونکو شريکانو سره د دولت په مشرۍ مشورو، په ځانګړې توګه د نړيوالو شريکانو د معلوماتو همغږي کولو لپاره د تمويلوونکو د ارتباطي اشخاصو نومولو له لارې يې ملاتړ کوي. په کابل کې د رسمي او غير رسمي مرستو د همغږۍ د څو ميکانيزمونو شتون يوه ننګونه ده. يوناما د ماليې په وزارت کې د همغږۍ او څارنې د

ګډ بورډ د دارالانشاء او د تمويلوونکو سره کار کوي څو د همغږۍ يو ډېر منظم سيستم رامنځته کړي څو د اړوندو وزارتونو او تمويلوونکو شريکانو سره منظمې خبرې اترې وکړي او د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ پياوړي څارنې او نظارت رول ته په داسې توګه زمينه برابره کړي، چې د کابل بهير کې يې ورانګه پوهنه شوې ده.

۵۷. د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ لپاره د لايحې تر بياکتنې لاندې نيول شوي شرايط د مدني ټولنې او خصوصي سکتور استازو د ګډون لپاره زمينه برابروي. يوناما د افغان مدني ټولنې له شبکو سره د همغږۍ او څارنې په ګډ بورډ کې د دوی د منظم استازيتوب لپاره د ميکانيزم په جوړولو کې مرسته کړې ده. ماليې وزارت د يوناما په مرسته، د ملي لومړيتوبونو د پروګرامونو د پراختيا په برخه کې له مدني ټولنو سره، چې ډېری به يې په محلي کچه کليدي همکار شريکان وي، د مشورې لپاره يوه کاري ډله جوړه کړې. د يادونې وړ ده چې ورته بهير اوس د خصوصي سکتور شبکو په برخه کې هم روان دی.

۵۸. د يوناما دفترونه په محلي کچه د ولايتي پرمختيايي شوراګانو، د اقتصاد وزارت او د اړوندو وزارتونو تر مشرۍ لاندې کاري ډلو سره نږدې کار کولو ته دوام ورکوي څو د ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې د همغږۍ او د ولايتي بيارغونې ټيمونو او ډونرانو د منظم ملاتړ په برخه کې مرسته وکړي. د يوناما ساحوي دفترونو په کاپيسا، پروان او وردګو ولايتونو کې د ولايتي پرمختيايي شوراګانو او سکتوري کاري ډلو سره ورکشاپونه جوړ کړل ترڅو د پراختيايي مرستو طرحه کولو او رسولو د همغږۍ په برخه کې د اړوندو دندو او اړيکو په هکله پوهاوی لا زيات کړي. د يوناما ساحوي دفترونو په پکتيا ولايت کې د محلي چارواکو او د ولايتي بيارغونې له ټيمونو سره کار کړی څو د پروژو د پلي کولو لپاره ګډې کړنلارې رامنځته کړي، چې دا چاره به اوس نورو سويل ختيځ ولايتونو ته هم وغځول شي. همدارنګه د يوناما ساحوي دفتر په هرات ولايت کې د ولايتي مرستو د همغږۍ لپاره د ميکانيزمونو په بياکتنه کې د والي او اړوند وزارت له استازو سره مرسته هم وکړه.

۵۹. د حکومت په مشرۍ د مرستو د همغږۍ په برخه کې د ملاتړ لپاره يو مهم ګام د کابل په کنفرانس کې له ما څخه د ولسمشر کرزي غوښتنې سره سم د ملګرو ملتونو د خپلمنځي انسجام پياوړتيا ده. په دې لار کې لومړی ګام د يو بشپړ ستراتيژيک چوکاټ جوړول دي، چې دا بهير د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستو چوکاټ او د يوناما د ماموريت له لارې طرحه شوو کړنو پر بنسټ رامنځته کيږي، او د پراختيا او بشري کړنو لپاره د ملګرو ملتونو اساسي اصول په پام کې نيسي. په افغانستان کې د بشپړ ستراتيژيک چوکاټ د تمرکز د ټاکلو معيارونه د کابل بهير، د سازمان نسبي ګټې، او سازمان دننه لا نورې همغږۍ لپاره د ځای شتون سره سمون لري. پنځه لومړيتوب لرونکي ساحې په ګوته شوي دي: سوله، پخلاينه او بيا يوځای کېدل؛ حکومتولي او د قانون حاکميت؛ بشري حقونه؛ دوامداره معيشت؛ او د مور او نوي زيږيدلي روغتيا. سربېره پر دې، د ملګرو ملتونو د هېواد په کچه ټيم د ملګرو ملتونو د مېرمنو دفتر تر مشرۍ لاندې، د "په واحده او منسجمه توګه د ملګرو ملتونو لخوا ورانډې کول" تګلارې پر بنسټ د دايکندي په ولايت کې د افغان ښځو لپاره ملي کاري پلان په ازمايښتي توګه پلي کول پيل کړل. د پروګرامونو يو ګډ پلېټفورم د ملګرو ملتونو د ۱۶ ادارو لخوا تصويب شو، او د دې هدف لپاره د تطبيق د يو ګډ پلان پر جوړولو کار روان دی. همدارنګه د يونيسف، د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) او د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق (UNFPA) لخوا بيړنيو طبي او رواني اړتياوو پوره کولو لپاره چټک غبرګونونه او مرستې هم ورکړل شوي دي. د افغان رهبرۍ او مالکيت له اصل سره سم، د دايکندي له ځايي چارواکو سره د ګډ کار او همکارۍ او د محلي اړتياوو د پوره کولو لپاره د ځانګړو اقداماتو په ګوته کولو کې د ۱۲ وزارتونو او دولتي ادارو په انسجام کې هم د ښځو چارو له وزارت سره مرسته شوې ده.

**پنځم. بشردوستانه مرسته**

۶۰. په افغانستان کې بشري اړتياوې، د بياکتنې لاندې په موده کې، ډېر ستر وو. د مخ په خرابېدو امنيتي وضعيت خلکو ته خوندي لاسرسی له خنډ سره مخ کړی دی. یوازې د هيواد نیمايي بشري سازمانونو ته لاسرسي ممکن دی. د ماشومانو او وسله والو جګړو په اړه زما په راپور کې چې د خونديتوب کومې جدي انديښنې په ګوته شوي دي، (S/2011/55) په افغانستان کې لا لا هم شتون لري. په تېر ژمي کې د لږ واورې کچه په پایله کې، يو د وچکالۍ لوړ خطر او همدارنګه د سیلابونو ګواښ زيات دی. بې ځايه کيدل او د راستنيدونکو د بيا يوځای کيدو په وړاندې خنډونه د انديښنې وړ دي. اټکل شوی چې اوسمهال کابو ۸ میلیونه خلک خوراکي توکو ته او يو ملیون نور هم بيړنۍ کرهنيز مرستو ته اړتيا لري. مخ پر ودې بشري اړتياوو ته د رسيدو لپاره، د بشردوستانه هيواد ټيم په ۲۰۱۱ کال کې د ژوند ژغورولو او معیشت ژغورولو فعالیتونو، بيړني چمتووالي او بيړني پلان جوړونې په اړه ګډه غوښتنې باندې بيا تمرکز کړی دی. د افغانستان لپاره په ګډه غوښتنه کې د ۶۵۷ ملیون ډالرو غوښتنې په ځواب کې اوسمهال ۳۱ سلنه تمویل شوی دی.

۶۱. افغانستان په نړۍ کې د مېندو د مړينې ترټولو ستر انډول لري، چې په ۱۱ تنو مېرنو کې ۱ میرمنه د امیندوارۍ او زېږون پورې اړوند لاملونو له امله د مړينې له ګواښ سره مخ دی. د افغان ماشومان د هرو پنځو تنو څخه يو ماشوم تر پنځه کلنۍ مخکې ژوند له لاسه ورکوي. د ملګرو ملتونو د وګړو وجهې صندوق، یونیسف، د روغتيا نړيوال سازمان، نړيوال بانک، او د اچ آی وی / ایډز په اړه د ملګرو ملتونو د ایډز ګډ پروګرام د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۳ کلونو لپاره د ګډ کاري پلان جوړښت طرحه کړی چې د عامې روغتيا وزارت سره مرسته وکړي تر څو د مېندو او نوي زېږون روغتيا او همدارنګه د يو موټی ستراتیژیک کلیدي چوکاټ موضوع هم لاپسې ښه کړي.

۶۲. نړيوال خوراکي پروګرام د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د مياشتې څخه بيا د ۲۰۱۱ کال د فبروری تر میاشتې پورې د هدفي خواړو مرستې ته دوام ورکړی دی. څه د پاسه ۲۶۰۰۰۰ د ښوونځي زده کوونکي لوړ انرژي بسکټونه ترلاسه کړي دي. له ۳۰۰۰۰۰ څخه زياتو ښځو او محروم شويو ډلو سره د خوراکي توکو د روزنې له لارې مرسته وشوه، کابو ۶۰۰۰۰۰ ګټه اخيستونکو سره د کار به بدل کې خواړه د پروګرام له لارې مرسته شوي ده او کابو ۲۵۰۰۰ په نرې رنځ اخته ناروغانو مرستې ترلاسه کړې دي. د پرمختګ نوښت لپاره د پیرود د يوې برخې په توګه نړيوال خوراکي پروګرام غنم له کوچني مالکينو کروندګرو څخه پېرودلي چې د لوړ انرژی بسکيټونو د محلي توليد لاتړ کوي. نړيوال خوراکي پروګرام د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت څخه ۱۳۰۰۰ مټريک ټنه سيمه ييز غنم پېرودلي چې د افغانستان د ستراتيژيک غلو زيرمې سره ملاتړ وکړي.

۶۳. په تيرو نهو کلونو په موده کې ټولټال ۵،۵ ملیونه کډوال بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي چې د ټول نفوس له ۲۰ سلنې څخه زيات دي. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ دفتر اټکل کوي چې د پام وړ شمېر ټول راستنيدونکي (په احتمالي توګه ۴۰ سلنه) لاهم د بيا يوځای کيدو ملاتړ ته اړتيا لري چې ډيری (په احتمالي ډول سره ۲۸ سلنه) بشري مرستو ته سخته اړتيا ولري. د ملګرو ملتونو د کډوالی عالی کمشنري دفتر د دې ډول د کچې د معلوملو لپاره د ازمايښتي څارنې پروژې پيل کړې چې اړتياوې او د راستنيدونکو د بيا يوځای کيدو په اړه پرمختګ معلوم کړي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنري دفتر د راپور ورکولو په موده کې، د ۳۵۱ تنه افغانانو په داوطلبانه راستنيدو کې سره مرسته کړې او په ۲۰۱۰ کې دې ۳۵۳۶۹ د راستنيدونکو کورنيو او داخلي بې ځايه شويو کسانو ته لومړني غير خوراکي توکي او د ژمي لپاره کڅوړې ويشلي دي (له ۲۱۲۰۰۰ څخه زيات انفرادی کسان). د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر نيمايي پورې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنری دفتر هم ۳۶۸۷ سرپناه ځايونه بشپړ کړي، چې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ د مياشتې څخه تر دې مهاله ۱۷۰۰۰ څخه زيات سرپناه جوړ شوي دي.

۶۴. په ۲۰۱۰ کال کې د جګړو له امله بې ځايه کيدنه د زياتوالي په حال کې ده، او دا رجحان د ۲۰۱۱ کال په جنوري کې هم دوام درلود. اوس مهال اټکل کيږي چې ۳۶۰۰۰۰ وګړي په افغانستان کې په داخلي توګه بېځايه شوي کسان شتون ولري، چې د اټکل له مخې ۱۰۲۰۰۰ يې د شخړې په پايله کې بې ځايه شوي دي. یوازې د ۲۰۱۱ د جنوري په مياشت کې، 12,122 کسان راپور شوي دي د جګړو په پايله کې بې ځايه شوي دي. د ملګرو ملتونو د کډوالی د عالی کمشنری دفتر د ساتنې او مرستې همغږي کوي چې د داخلي بې ځايه شويو کسانو ډلو ته غبرګون په ګډون، هر چيرې چې امکان ولري خپلو اصلي ځايونو ته په خپله

خوښه راستنيدل اسانتياوي   برابر کړي. د ښاری بې ځایه کیدلو د ښه پوهیدو لپاره او د داخلي بې ځایه شویو خلکو د ساتنې اړتیاوو ته ځواب ویل، د ملګرو ملتونو د کډوالی د عالي کمشنر دفتر، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او اړوند وزارتونو سره، اوس مهال په کابل کې په غیر رسمي میشت ځایونو کې د خوندیتوب پروفایل ترسره کوي.

۶۵.	د ملګرو ملتونو په ملاتړ په افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز د معیشت سروې او د ماین پاکۍ وروسته د اغیزو سروې ترسره کړي چې د ماین پاکۍ ټولنیز-اقتصادي اغیزې ارزونه کوي. دغه مرکز د ماین پاکۍ ریاست په ملاتړ د پاکې شوې ځمکې کنټرول او نظارت ترسره کوي. د ځمکنیو ماینونو د قربانیانو شمیر په ډراماتیک ډول سره کم شوی، او په ۲۰۱۰ کال کې د تلفاتو اکثریت (۷۴ سلنه) د ناچاودو توکو او د جګړې څخه پاتې ناچاوده توکو له امله دي نه د ځمکنیو ماینونو له امله. دغه مرکز د پلې کوونکو شریکانو سره کار کوي ترڅو د دې رجحان په ځواب کې خپل پروګرامونه بیا تنظیم کړي.

**شپږم. د مخدره توکو په وړاندې مبارزه**

۶۶.	د ۲۰۱۱ کال په جنوري میاشت کې، د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر د ۲۰۱۰ کال لپاره د افغانستان د اپینو سروې خپره کړه او خبرداری یې ورکړ چې په احتمالي توګه د اپینو لوړې بیې ښایي کروندګر دې ته وهڅوي چې زیات کوکنار وکري. په ۲۰۱۰ کې، د حاصلاتو د راټولولو په وخت کې د وچو اپینو منځنۍ بیه د یوه کیلو ګرام لپاره ۱۶۹ ډالره وه، چې دا یو زیاتوالی دی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۶۴ سلنه جوړوي، کله چې بیه د یوه کیلوګرام لپاره ۶۴ ډالر وه. د بیې دغه ډراماتیک زیاتوالی په سیمه ایزه کچه د په ورته قیمت کې د ورته بیې لوړوالی ژباړه نه ده او د ګاونډیو هیوادونو د پولې پورې غاړې نرخونه نسبتاً باثباته پاتې دي. په پایله کې، په کال ۲۰۱۰ کې د افغان جرمي ډلو لپاره د تریاکو له اقتصاد څخه ترلاسه شوي عاید نیمايي ته راټیټ شوی دی. د صادر شویو اپیمو او هیروینو ټولټال ارزښت ۱،۴ ملیارد ډالر وو، او د دغه په پرتله په ۲۰۰۹ کال کې ۲،۹ ملیارد ډالر وو چې ۵۰ سلنه کمښت ښیې.

۶۷.	همدارنګه د جنورۍ په میاشت کې، د مخدره موادو سره د مبارزې وزارت، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو په وړاندې مبارزه دفتر سره په ګډه، د ۲۰۱۱ کال د اپینو د ژمي د چټکې ارزونې سروې په اړه مطبوعاتي کنفرانس جوړ کړ چې مرکزي، ختیځ، سویلي او لویدیځ ولایتونو لپاره و. د سروې اصلي موندنه دا وه په ۲۰۱۱ کال کې په دغو سیمو کې د کوکنارو په کښت کې د لوړ قیمت سره سره د یو څه کمښت تمه کیدای شي. داسې بریښي چې د فکتورونو ترکیب پدې پراختیا کې مرسته کړې وي، د وچې هوا په ګډون، د کوکنارو د کښت پر وړاندې د هڅو او قانوني بدیلونه شامل دي. خو د افغانستان په لویدیځو ولایتونو کې د سروې له مخې په فراه، هرات، غور او نیمروز ولایتونو کې د کوکنارو د کښت د زیاتېدو تمه کېږي. د ختیځ او مرکزي ولایتونو ننګرهار، کنړ، لغمان، کابل او کاپیسا دي ته ورته نمونې تعقیبوي او کیدای شي کاپیسا او غور ولایتونه بېرته د تریاکو کښت ته د راستنېدو شاهد وي کوم چې کیدای شي د کوکنارو څخه د پاک ولایتونو حالت له لاسه ورکړي. پاتې ولایتونه د افغانستان په مرکزي او ختیځ کې هغه ولایتونه دي چې په ۲۰۱۰ کال کې له کوکنارو څخه پاک وو، تمه کیږي چې دا دریځ وساتي. د تریاکو اوسنۍ لوړې بیې نه دی توانیدلی چې په هلمند او کندهار  ولایتونو کې د تریاکو د کښت زیاتوالی راولې، کوم چې د تریاکو تر ټولو لوړ کښت ولایتونه دي. په حقیقت کې تمه کیږي چې په کال ۲۰۱۱ کې په دغو ولایتونو کې د کوکنارو کښت کم شي.

۶۸.	د ۲۰۱۰ کال د دسمبر  په میاشت کې، د پوهاوي د لوړولو لپاره د افغان و افغان ته روزنیز کورس او د افغانستان د قانون پلي کوونکو ادارو د کشفي وړتیاوو ښه کول جوړه شوي و چې په هغه کې د هیروین او په نورو مخدره توکو او همدارنګه د چاودیدونکو توکو په تولید کې د کارول شوي کیمیاوي توکو پر جریان باندې د خنډ رامنځته کولو باندې تمرکز درلود. همدارنګه د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مخدره توکو سره د مبارزې دفتر، د افغانستان

او پاکستان ترمنځ د تورخم په سرحدی پوله کې د اړيکو لومړی دفتر پرانستل تر څو د پولو له لارې د سازمان شوي جرمونو په وړاندې د مبارزې ملاتړ چمتو کړي.

.۶۹ د زندانونو په اړه د ملګرو ملتونو د مخدره توکو سره د مبارزې دفتر وروستۍ سروې اټکل کوي چې د اوسني ۳۰ سلنه چې په بند کې خپله موده تېروي د مخدره توکو کارولو يا رسولو په جرم محکوم شوي دي. د خپل تبليغي هڅو برسېره د ملګرو ملتونو د مخدره توکو سره د مبارزې دفتر د حکومت ملاتړ کوي چې د ټولنې پر بنسټ بديلونه، لکه د مخدره توکو د درملنې مرکزونه، د بيوزلو کسانو لپاره د خدمتونو مرکز، د شپې سرپناه او په نښه شويو وګړو ته د مرستو رسونې ټيمونه رامنځته کړي.

**اووم. د ماموريت ملاتړ**

.۷۰ زه د غړو هيوادونو څخه مننه کوم چې د ماموريت بوديجه يې تصويب کړې تر څو د ۲۰۱۱ کال لپاره اړتياوې پوره کاندي، يوناما ته اجازه ورکوي چې د خپل ماموريت پلي کولو ته دوام ورکړي. يوناما په يوه ستونزمن امنيتي چاپېريال کې خپل فعاليت ته دوام ورکوي. د هغو ګواښونو د بڼو د بدلون ماهيت چې په افغانستان کې ملګري ملتونه ورسره مخ دی، کولای شي او بايد د فعاليتونو د ساتلو لپاره د اړينو سرچينو په کارولو سره، هرچيرې چې امکان ولري، کم او لږ شي. لکه څنګه چې د خونديتوب او امنيت رياست لخوا وړانديز شوی، يوناما په ټول هيواد کې د امنيت د ټينګښت پروژې پلي کولو ته دوام ورکوي، په داسې حال کې چې ماموريت پياوړی کيږی او ليريو پرتو سيمو ته لاسرسی هم پراخيږي.

.۷۱ په کابل کې وروستي ځانمرګي بريدونه چې پورته يې يادونه وشوه، او همدارنګه د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۲۳ نېټه په هرات کې د ملګرو ملتونو پر ودانۍ بريد وشو مخکينی راپور، د ګواښ د مناسب کمولو اقداماتو اړتيا يې په ګوته کړه چې د امنيت د لوړولو د پروګرام د پلي کولو له لارې وکارول شي په ټول هيواد کې د ملګرو ملتونو د ټولو دفترونو لپاره اړين دي. د خوندي کمپوند جوړول، په هغه ځمکه چې د افغانستان د حکومت له خوا په وړيا توګه ورکړل شوې په کندهار کې تر کار لاندې دي. د ورته کمپونډنو د جوړولو پروژې په باميان او مزارشريف په ولايتونو کې د ماموريت سيمه ايز دفترونه طرحه شوي دي. په کابل ښار کې د الفا کمپونډ اوس مهال په بشپړه توګه فعاله ده، او په کابل کې د بيارغونې لپاره کار او د يوناما په نورو تاسيساتو کې د امنيت د ښه کولو تدابير او نور هستوګن ځايونو جوړول د پلان سره سم پرمخ روان دی.

.۷۲ زه په دې هم خوښ يم چې راپور ورکړم چې د نړيوالو کارکوونکو لپاره د ماموريت خالي بستونه د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ تر ۳۱ پورې د کارکوونکو شمېر ۳۲ سلنه دی، چې د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په مياشت کې ۳۵ سلنه وو، او دا چې په ټوليز ډول د خالي بستونو عمومي کچه ۲۰ سلنه ده. په دې برخه کې، زه هم غواړم د غړي هيوادونو څخه مننه وکړم چې د افغانستان په ډول سختو هېوادونو کې کار کول، د ملګرو ملتونو په سيستم کې د کارکوونکو د خدمت د شرايط او ضوابط همرنګه کول او برابرول لپاره ملاتړ ښودلي چې با تجربه کارکوونکي وساتل شي چې د ګمارلو لپاره يو لومړيتوب وی.

.۷۳ په کويټ کې د يوناما د ملاتړ دفتر په رسمي ډول تاسيس شوی دی. په کويټ کې د ماموريت ميشت دفتر پرسونل، په سېمه کې د ماموريت کارکوونکو ته اداري ملاتړ چمتو کوي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ د ناورين بيا رغونه او د چارو د دوام سيستمونه نصب او فعال دي. ماموريت له نږدې څخه په عراق کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت يونامي او د ساحوي ملاتړ رياست سره کار کوي تر څو موثريتونو وسپړي چې د کويټ په ګډ دفتر کې د دوو ساحوي دفترونو ملاتړ تحقق و مومي. د ورته سپورمکۍ ټيکنالوژۍ تجهيزات او سرورونه د کويټ د ګډ دفتر له لارې د دواړو ماموريتونو ملاتړ ترسره کوي او د ظرفيت جوړونې او روزنې د ملاتړ پروګرامونه هم په ګډ ډول سره ترسره کيږي.

**اتم: سپارښتنې**

۷۴. یوازې پنځه میاشتې مخکې، په لیزبن کې د ناټو په سرمشریزه کې، افغانستان او ایساف مرسته کوونکو هېوادونو استازي د یوې لارې نقشې په اړه موافقه وکړه چې د دې لامل شي چې افغان بنسټونه په بشپړ ډول سره په ټوله ملي کچه کې د امنیت مسؤلیت په غاړه واخلي. د لیږد دغه بهیر د امنیت، تایید هراړخیز لید جوړه وي، چې پرته له یو ښه حکومتداري او د اقتصادي پراختیا، امنیت د ملاتړ لپاره اوږد مهاله ژمنتیا رامنځته نشي، لاسته راوړنې به دوامداره نه وي. دا د لندن او د کابل د تړونونو سره سمون لري او د متقابلو ژمنو د عملي کولو پروسه، د کابل د پروسې په نامه یادیږي. یو شمیر ګامونه پورته شوي دي ټول اړخونه دې پروسې ته وده ورکړي. د مارچ په ۲۱نېټه د افغانستان د نوي کال د پیل سره سر خوری په پام کې ده چې ولسمشر کرزی به په روان کال کې د هغه ولایتونو او ولسوالیو لومړۍ برخه اعلان کړي چې افغان ځواکونو ته په بشپړ ډول سره امنیتي مسوولیتونه انتقال شي.

۷۵. د لیږد په بهیر کې لومړني ګامونه او د ظرفیت کچه ښیي چې افغانان به د خپل راتلونکي د پرمختګ لار په خپله وټاکي. د لیږد هدف د یو داسې افغان راتلونکی دی چې د تیرو شخړو څخه تیریږي، چې د خپل د هیواد بډایه کلتور، تاریخ او دود څخه اغیزمن شوی دی. د نړیوالو ټولنې سخاوت به د دې لیږد ترلاسه کولو لپاره خورا مهمه ونډه ولوبوي. په ورته حال کې د نړیوالې ټولنې له خوا د هغې ګواښ په اوږند پوهاوي هم ډېره مهمه ده چې کله نا کله د افغانانو په اړوند ښه نیت د افغان وګړو وړتیاوې تر تاثیر لاندی راولي او اجازه ورکړي چې افغان ستونزی د افغانانو له خوا حل شي. د افغانستان د حاکمیت بشپړ تعمیل یوازې یو حق نه دی، بلکې د افغان ولس په وړاندې یو مسؤلیت هم دی. دا د مخکښې معیار په خلاف دی په ځانګړې توګه، چې د لیږد بریالیتوب به اندازه شي.

۷۶. د دې مثبتو ګامونو سره سره، د لیږد بهیر له ډیرو خنډونو سره مخ دی، د دوه سمدستي ننګونو په ګډون چې باید حل شي. یو د اجرایه، مقننه او قضایي څانګو ترمنځ تشنج د پارلمان د وضعیت په اړه دی. که دا نوره هم دوام وکړي، یا که دا د یو سیاسي ښکیلتیا لامل شي، نو به د اعتبار، اغیزمنتوب او ټول شمولیت لپاره زیانمن وي چې د لیږد په بهیر کې د افغانستان حکومت رهبري لپاره اړینه ده. په داسی حال کې چې هیڅ پوښتنه نشته چې د ټاکنو په بهیر کې د پام وړ نیمګړتیاوې شتون درلود، خو دا نه هم غیر متوقع او نه بې ساري وو. ملګري ملتونه په دې آند دي چې د ټاکنیزو ادارو په سختو شرایطو کې د ستاینې وړ کار ترسره کړی دی. همدارنګه هیڅ پوښتنه نشته چې پایلې یې په هیواد کې بې ثباتي د نمونو انعکاس وه او داسې پارلمان یې رامنځته کړ چې په ځینو سېمو کې یې پښتانه استازیتوب د تیر پارلمان په پرتله په ښکاره توګه لږ وو. دا هغه ستونزه ده چې په ښکاره ډول سره باید حل شي، مګر په داسې یوه طریقه ورته رسیدګې وشې چې په ځانګړې توګه د لیږد پر پروسې باندی به پایلې ولري، او په ټولیزه توګه د افغانستان راتلونکي ثبات باندی هم اغیزه وکړی. زما ځانګړی استازی د ټولو اړخونو سره په ګډه کار کوي ترڅو یو مناسب حل لار ومومي، پداسې حال کې چې اړین ټکی دا دی چې د حل لاره باید د ټاکنیزو بنسټونه، د اساسي قانون له مخې د واک د ویش، د نړیوالې ټولنې باور او په حقیقت کې د افغان وګړو ته د تاوان په بیه تمام نشي.

۷۷. د کابل پروسې د تطبیق په وړاندې دویمه بیړنۍ ننګونه د کابل بانک اوسنی کړکیچ دی. دا هم به خپل وار سره د نړیوالو همکارانو مرستو باندیو چې د افغانستان له ملي لومړیتوب پروګرامونو سره سمون لري، اغیزه لري. د دې ستونزی د حل لپاره اوږد مهاله ځنډ د اقتصادي ودې لپاره د حکومت لید او هغه پرمختګ چې په دې برخه کې تر لاسه شوی دی د ملي لومړیتوبونو پروګرامونو پراختیا باندي د زیان رسولو ګواښ کوي. دا ځنډونه به باور کمزوری کړي او د هیواد مالي سیستم او په خورا مهم ډول د ترون د نهایي کیدو مخه نیسي کوم چې د نړیوال پیسو صندوق نوی پروګرام د هېواد لپاره لري. د نړیوال پیسو صندوق د پروګرام د نه شتون په صورت کې، دا به ستونزمن وي چې نړیوال همکاران به د کابل کنفرانس د مستقیمو مرستو ژمنې پوره کاندی چې د حکومت له لاري بودیجه مصرف شي. دغه موضوع د پراختیایي پروژو لپاره د کافي امنیت د نه چمتو کولو په اړه د ناڅرګندتیا سره یوځای، او د خصوصي امنیتي شرکتونو په اړه د ولسمشر ۶۲ ګڼه فرمان د پلی کولو پر مهال –د قناعت وړ حل لپاره د هڅو سره سره- د حکومت لومړیتوب لرونکي پرمختیایي اجنډا او موجوده ژمنې په زیاتیدونکي توګه د دولت د بودیجې له لارې د تمویل کوونکو د تمویل چمتو کول اړین مالي تمویل د ګواښ سره مخ کوي.

۷۸.	د دې دوو ستونزو پېچلتیا او همدارنګه د افغانستان پر راتلونکي باندي د هغه د حلولو اهمیت باید لږ اټکل نشي.

۷۹.	ملګري ملتونه ژمن دي چې د کابل پروسې ملاتړ ته دوام ورکړي، د رغنده، هراړخیز، شفاف، په عملي توګه متمرکز او د ټولو اړوندو شریکانو سره بشپړ ملګرتیا، د افغانستان حکومت او خلک څخه پیل، پر ټولو نړیوالو پرمختیایي همکارانو باندي متمرکز دی. د کابل پروسې او انتقال په اړه زموږ ټګلاره درېو کلیدي اصولو پر بنسټ ولاړه ده: لېږد باید د افغانانو په مالکیت وي. دا باید پلان شوي وی او په دوامداره توګه پلي شي؛ او باید د ټولو افغانانو د حقونو خوندیتوب او ترویج په هکله ډاډ ترلاسه کړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیستم کولای شی په افغانستان کې د ناټو/آیساف هڅې بشپړونکې وی او اضافه ارزښت ورته ورکړي د ځانګړي سکټورونو په ګډون، لکه سیمه ایز منځګړیتوب او د شخړو د حل ملاتړ؛ تبلیغ او د بشري حقونو څارنه؛ د افغان ظرفیت لوړولو لپاره تخنیکي مرستي، د لومړنیو خدماتو وړاندې کول، او د طبیعي پیښو مدیریت لپاره، په حدودو کې د شته تمویل او سرچینو څخه چې د ملګرو ملتونو غړو ته چمتو شوي د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو ټیم او د افغانانو په مشرۍ د نړیوالې پراختیا د همغږۍ ملاتړ او د دولت په ټولو کچو کې مرستې. زیات تمرکز به په هغو ځایونو وي چیرې چې اړتیاوې شتون لري او چیرې چې امنیت او د لاسرسي شرایط به اجازه ورکړي، او څرنګه چې لازمه ده موسسې د اړتیا په صورت کې د خپلو هڅو د اعظمي کولو او خپل شتون پیاوړي کولو لپاره هڅې لا پسې زیاتي کړي. ملګري ملتونه به هم د "د واحد ملګري ملتونه" تګلارې تعقیب ته دوام ورکړي، او ولسمشر کرزي ته زما د ژمنو سره سم، په افغانستان کې د خپلو هڅو همغږي پیاوړې کړم.

۸۰.	لکه څنګه چې د لېږد بهیر، چې اوس مهال په زیاته پیمانه، پر امنیت تمرکز لري، مخ په وړاندې روان دی، او دا به یوازې به هغه مهال د پایښت وړ کیدای شي چې یو ټول شموله سیاسي بهیر سره مل وی. دا ډول یوه پروسه به دا یقیني کړي چې ټول افغانان د کابل پروسې لخوا د ټاکل شوې اجنډا په پرمخ بیولو کې پراخه دلچسپي ولري. د سولې د مشورتي جرګې د غونډې په دایردو سره، د سولې د عالي شورا جوړول او د افغانستان د سولې او بیا اداغام د پروګرام تصویب او تدریجي پروګرام پلې کولو کې د افغانستان حکومت دا په ډاګه کړه چې د بین الافغاني خبرو هڅولو لپاره د مشرتوب ونده لري. دا تحریک د ولسمشر کرزي له خوا د هغه په دوهم افتتاحیه کې، باید دوام ومومي. ټول اړخونه د افغانانو پوروړي دي، چې باید دوي سره مرسته وکړي او د افغانې ټولنې ټول اړخونه د یو سوله ییز او ګډ ژوند په مقصد په زیاته پیمانه د یوالي او پیوستون پوهاوي ورکړي.

۸۱.	د جګړې زیاتیدونکي انساني مرګ ژوبله چې موږ یې د مخ په زیاتیدونکي خطر سره ورته ګورو په نظامي عملیاتو کې د زیاتوالي سره تړاو لري، او همدارنګه د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو او همدارنګه د ځانمرګو بریدونو د پر له پسې کارولو له امله دي. د افغان ملکي وګړو حالت، چې د جګړې زیان یې زغملې دې، باید د دې لپاره بنسټیز دلیل وي چې نه یوازې د ملکي وګړو د ساتنې او درناوي د ډاډمنولو هڅې پیاوړې کړي، بلکه د ټولو اړخونو لخوا د نړیوال حقوقي نورمونه رعایت شي، او د سیاسي حل په لټه کې شي تر څو د ټولو افغانانو، نارینه او ښځینه، هلکان او نجو ته اجازه ورکړي چې په خپل هیواد کې سولې ته انتقال پروسې کې برخه واخلي، له تاوتریخوالی څخه پاک او هغوی د اساسي بشری حقونو څخه برخمن شی.

۸۲.	لکه څنګه چې د بیا یوځای کیدو نوښتونه دوام لري، د باور رامینځته کولو اقدامات کولای شي مرسته وکړي بین الافغاني ډیالوګ ته وده او پراختیا ورکړي. په دغه ځای کې زه د امنیت شورا غړي هڅوم چې په خپلو راتلونکو بحثونو کې سیاسي مسایل په پام کې ونیسي او د افغانستان په شرایطو کې د سیاسی حل ارزښت او اهمیت، د رامنځته شوی بندیزونو د رژیمونو، چې د شورا لخوا په خپل پریکړه لیک ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) او اړوندو وروسته پریکړه لیکونو کې کړي دي، خپل په ذهن کې ولري.

۸۳.	یوناما د سلام ملاترې ډلې له لارې، چې په اوسنۍ راپور کې توضیح شوي سمبال شوی دی، د دې لپاره چې خپل د ښه نیت هڅې له لارې خپل د عامه سیاسي پوهاوي ماموریت پلي کړي، او همدارنګه د باور جوړونې اقداماتو وړاندیز او وده ورکولو پروسې ته ادامه ورکړي، تر څو د سولې عالي شورا ملاتړ او د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام پلي کړي، او په نهایت کې د افغانانو په مشرۍ پراختیا تطبیق او د پخلاینې بهیر ملاتړ وکړي.

۸۴. د پرمختګ ژمنه چې يو باثباته او پرمختللی افغانستان به خپلو ګاونډيو او پراخې سيمې ته په ارمغان راوړي د مبالغې وړ ندی. د افغانستان او د هغه د سيمه ييزو شريکانو ترمنځ دوام د سوداګرۍ ښکيلتيا، اقتصادي پراختيا او د زيربناوو پراختيا په برخو کې بايد ملاتړ وشي. نو ځکه د سيمې د هيوادونو ښکيلتيا هم بايد د افغانانو په مشرۍ د پخلاينې د بهير سره همنوا وي. په دې اړوند زما ځانګړی استازی په پر له پسې توګه د سيمه ايزې همغږۍ کوونکی رول لوبوي او د سيمې هيوادونو او ګاونډيو هيوادونه ته سفر کوي تر څو د دغو هڅو د دوام لپاره اسانتيا برابره او مرسته وکړي.

۸۵. د پورتنيو معلوماتو په رڼا کې، د يوناما ماموريت چې د کال ۲۰۱۱ د مارچ په ۲۳ نېټه پای ته رسيږي ، بايد د ۱۲ نورو مياشتو لپاره وغځول شي. د واک عناصر، لکه څنګه چې د امنيت شورا په پريکړه ليک ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) کې يادونه شوې ده، بايد په افغانستان کې د ماموريت کار لارښود ته دوام ورکړي، د هغو پرمختګونو په پام کې نيولو سره چې په تېر کال کې ترسره شوي او د ۲۰۱۱ کال لپاره د ماموريت پورته ذکر شوي لومړيتوبونه په پام کې نيولو سره.

۸۶. په افغانستان کې ملګري ملتونه په پراخه او رغنده توګه د نورو نړيوالو ادارو سره همکاري او کار کوي. زه غواړم په ځانګړې توګه د ناټو جګپوړي ملکي استازي او اروپايي اتحاديې استازی ته، زما له ځانګړي استازي او د هغه د ټيم سره چې له نږدې همکاری کړی، خپله ستاينه څرګند کړم.

۸۷. په پای کې زه غواړم له خپل ځانګړي استازی او د يوناما مشر سټيفن ډی ميستورا څخه د هغه د ژمنتيا او مشرتابه څخه مننه وکړم. زما پر له پسی ستاينه د هغه ټول نارينه او ښځينه کارکوونکو لپاره دی کوم چی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سره کار کوي، کوم چې په خورا سختو شرايطو کې نه ستړي کيدونکې کار ته دوام ورکوي، تر څو د سولې، سوکالۍ او با ثباته افغانستان موخې مخ په وړاندې يوسي.

**ضمیمه**

**د معیارونو پر وړاندې ترسره شوی پرمختګ**

**لومړی. امنیت**

**معیار: باثباته افغان امنیتي نهادونه او بهیرونه چې د سولې او ثبات د تامین او د افغان وګړو د ساتنې وړتیا ولري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د رهنمايي شويو، روزل شويو او عملياتي افغان ملي پوليسو او ملي اردو د منسوبينو زيات شوي شمير | • ملي اردو او ملي پوليس د ودې شمیرې سم روان دی او په ۲۰۱۱ کال کې د دوي شمېر په ترتيب سره ۱۷۱۶۰۰ او ۱۳۴۰۰۰ تنو ته ورسيد. د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په مياشت کې د افغانانو ځواکمنتيا ملي امنيتي ځواکونه په لاندې ډول وو: ۱۵۲۰۰۰ ملي اردو او ۱۱۸۰۰۰ ملي پوليس پرسونل.<br><br>• د ملګرو ملتونو پراختيايي پورګرام د ۲۰۱۱ کال د پوليسو د مشاهده ښيی چې د افغان پوليس باندي د خلکو باور د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۳۴ سله ښه والي راغلی (په داسې حال کې چې د هېواد په سهيل سېمه کې د خلکو باور کم شوی دی). |
| د افغانستان د امنيت مشرتابه ته د مرحله وار او د شرايطو پر بنسټ د لیږد د يوه پلان جوړول او پرمختګ | • د ۲۰۱۰ کال د نومبر په مياشت کې د ملګرو ملتونو، ناتو له خوا ملاتړ شوی ايساف ځواکونو ته د مرستو چمتو کولو هېوادونو مشران په يوه اعلاميه کې ويلی چې د لېږد چاری په سمه روانه ده او د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کې ځېنې ولايتونو او ولسوالېو د لېږد پروسه پيل شي. همدارنګه اعلاميه د ولس مشر کرزی هغه موخه و ځل بيا تاييد کړ چې د افغان ملی امنيتی ځواکونه بايد د ۲۰۱۴ کال تر پايه پوری په ټولو ولايتونو کې مسوليت واخلی او عمليات په خپله ترسره کړي.<br>• د جنوري د مياشتې په ۶ نېټه ولسمشر کرزی اعلان کړی چې د لېږد لومړي پړاو د ۲۰۱۱ کال د مارچ د مياشتې په ۲۱ نېټه پيل شي. |

**دویم.    سوله، ادغام او پخلاینه**

**معیار: د رغنده او ټولشموله بهیرونو د تعقیبولو لپاره ملي خبرې اترې او سیمه ییزه ښکیلتیا چې موخه یې د یوه داسې سیاسي چاپیریال تقویت چې د سولې لپاره مساعد وي**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ټولشموله ملي او سیمه ییزو بهیرونو پرمختیا او تطبیق چې موخه یې د سولې، ادغام او د پخلاینې د هڅو وده او ترویج دی | • د سولې مشورتې جرګه د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې د ۲ نېټې څخه تر ۴ نېټې پورې جوړه شوه چې په هغه کې ۱۶۰۰ استازی ګډون کړی وو.<br>• تر ۳۰۰ تنه زیات ښځې (کابو د ټول ګډونکوونکو ۲۵ سلنه) په بریالۍ توګه په جرګه کې برخه واخیستل.<br>• ولسمشر کرزی د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتې په ۲۹ نېټه د فرمان په ترڅ کې، د افغانستان د سولې د بیا ادغام پروګرام په رسمې ډول سره اعلان کړ.<br>• تر ۹۰۰ زیات د حکومت مخالفین د افغانستان د سولې د بیا ادغام پروګرام سره یو ځای شول.<br>• تر ۲۳۴ ملیون ډالر زیاتې پېسې د افغانستان د سولې د بیا ادغام د پروګرام لپاره وعده ورکړ شوی چې ۱۳۴ ملیون ډالره تر اوسه رسیدلی دی. |
| د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) د پریکړې په تعقیب رامنځ ته شوی  ثابتو، تازه او دقیقو معلوماتو د راټولولو او چمتو کولو لپاره د افغان چارواکو لخوا زیاته ورتیا | • د افغانستان حکومت په لوړه کچه یوه کاری ډله رامنځته کړی چې د امنیت شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) د پریکړې پر بنسټ رامنځته شوي کمېټې ته راټول شوی معلومات تثبیت، یوځای او کمېټې ته وړاندی کړی. |
| د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د عامه ملاتړ زیاتیدل | • د سولې عالي شورا د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې رامنځته شو. د سولې د ولایتی بیا ادغام ۲۷ کمېټې په ولایتونو کې رامنځته شوي دي. ګډ سکرتریت هوډ لري چې د کمیټو په تشکیلاتو کې بدلون راولي تر څو د ټولنو، قومي مشرانو او مدني ټولنو استازیوب زیات کړی او په هره کمېټه کې د غړو تعداد تر ۲۵ پورې محدود کړی.<br>• د سولې عالی شورا په لوړه کچه د هرات، کندهار، جلال آباد او کندز ولایتونو څخه لیدنه کړي تر څو د سولې پروسې لپاره ملاتړ رامنځته او په دې اړوند معلومات ورکړي. |

| | |
|---|---|
| | • د سولې عالی شورا د ایران، پاکستان او ترکیې هېوادونو څخه هم لېدنه تر سره کړېده تر څو د سولې او بیا پخلاینې په اړوند د سېمې ملاتړ باندي بحث وکړي. |

**درېیم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معیار: د پالیسیو د پلي کولو د ظرفیت په درلودلو سره او په زیاته پیمانه د ځان ساتنې وړتیا څو په سیمه ییزه کچه د دموکراتیکو قانوني حساب ورې تاسیساتو د رامنځ ته کولو له لارې په تول هیواد کې، تر ځایی کچې پورې، د دولت واک پراخه ول**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ښځو د ګډون په تړاو او په قانوني ډول د ورکړل شوې ونډې په پام کې نیولو سره، د ریښتینو او دوره یې ټاکنو د تنظیم او ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او خپلواکو ټاکنیزو ادارو د وړتیا زیاتوالې | • د شکایتونو خپلواک کمیسیون، په ۲۰۱۰ کال کې ۳ تنه افغانان او ۲ تنه نړیوال کمشنران درلود، (دغه شمېرې په ۲۰۰۹ کال کې ۳ نړیوال او ۲ تنه ځایی کمشنران وو.<br>• د ټاکنو خپلواک کمیسیون هغه نړیوال کارکوونکې ته کوم چې کمیسیون ته تخنیکې مرسته چمتو کوله، د ۲۰۰۹ کال په پرتله کمه شویده.<br>• د ټاکنیزو خپلواک کمیسیون خپل کار په ښه توګه او پر وخت تر سره کړي او د دوي د زمانی جدول په حساب پارلماني ټاکنې به د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه تر سره شي.<br>• په پارلمان کې د ښځو شمېره ۶۸ تایید شوی و چې ۶۹ تنه ښځې په ټاکنو انتخاب شوي دي. |
| د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې تاسیس او د اداری فساد پر وړاندې د معیارونو رامنځته کول | • د څارنې او ارزونې کمیټه د ولسمشر د فرمان پر اساس جوړه شوه. دري تنه افغانان د ولسمشر له خوا ټاکل شوي دي او همدارنګه نړیواله ټولنه دري تنه غړی نومولې دي. د کمېټې د پرانیستې غونډه د یو تن نړیوال نومول شوي غړي د ناڅاپه وتلو له امله وځنډیده.<br>• هوکړه حاصله شوي ده چې د څارنې او ارزونې کمېټې سکرتریت د نړیوال ډونراو له خوا، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له له لاري تمویل شي. |

| | |
|---|---|
| له اداري فساد سره د مبارزې د بنسټونو پیاوړي کول چې د اداري فساد پروړاندې د حکومت د ټولې کړنلارې څارنه وکړي | • د څارنې ستر دفتر چې د ولسمشر له خوا ملاتړ کيږي، اوس مهال لګيا دی چې د اداري فساد په وړاندې د حکومت د عمل پلان (د ساري په ډول د هر وزارت له خوا د هغه دری مورده چې د مبارزی لپاره چمتو شوي دي) همغږي او نهايي کړي. |
| د عامه چارواکو د شتمنيو د اعلان کلنۍ نشر | • ټولټال ۱۹۹۵ تنه د حکومت ستر چارواکې، ولسمشر، د هغه مرستيال او د کابينې غړي خپله دارايي ګانې ثبت کړې دي او موندنې په ملې رسنيو کې خپور شوي دي. |
| په مرکزی، ولايتي او ولسواليو په کچه د ملکی کارکوونکو ظرفيت زياتول چې خپل دندي ترسره او خدمات وړاندی کړی | • د ۲۰۱۰ کال د جنوری د مياشتې را پديخوا د افغان ملکی کارکوونکو اداره د هېواد په کچه ټولټآل ۱۲۳۵۸ تنه ملکې کارکوونکو ته بنسټيز عملياتي روزنې ورکړي او ۴۸۱۴ تنه نور ملکې کارکوونکو ته د کار آموزی په پروګرام کې د ظرفيت د پراختيا نوښتګر روزنې تر لاسه کړي دي.<br>• اداره ۱۱۰۰ ته فارغين د کابل څخه او ۲۰۰۰ تنه فارغين د ولايتونو څخه په خپل کار آموزی پروګرام کې ثبت کړي تر څو ځوان او روزل شوي فارغين د ملکې خدمتونو ډګر ته جذب کړی. |
| د ملکی خدماتو د دندو ګمارنې پروسه لا زيات شفافه او اغيزمن شی | • د افغانستان حکومت د ولسواليو د ولسوالانو او د ولايتونو د ولايانو د ګمارنې لپاره ولسمشريز فرمان له لاری د اهليت پر بنسټ د ګمارنې نوي سيستم يې رامنځته کړی دی. وروسته له لدې چارواکې به د سياسي ملحوظاتو پر بنسټ به نه ګمارل کيږي او يوازی به ده ستر ملکې کارکوونکې په ډول په دنده وګمارل شي.<br>• د دغه نوي سيستم پر بنسټ ۲۵ تنه ولسوالان په دنده ګمارل شوي دي او اوسمهال تر پروسس لاندي دي. |
| پياوړي شوي ملکی خدمتونو سمون د يو هراړخيز تګلاری په واسطه د ظرفيت جوړولو او د ډونرانو له خوا | • د ولسوالانو ۴۵ خالي څوکۍ او د مرستيال واليانو ۱۷ خالي څوکۍ اعلان شوي دي او اوسمهال تر پروسس لاندي دي. |

| | |
|---|---|
| تمويل شوى تخنيکي مرستې سره ملاتړ شوى. | • په ۲۰۱۰ کال کې د نړيوال مالي مرستې په ملاتړ، د منجمنټ د سمون پلې کولو ۶ اضافي واحدونه رامنځته شوي تر څو په وزارتونو او قضايي قوه کې د سمون چارې تسهيل کړي. |
| د ولايتي حکومتدارۍ پاليسي پلي کول او د ولايتي طرزالعمل، ماليه او بودجوي اداانه طرحه کول | • د ولايتي حکومتدارۍ پاليسي د وزيرانو د شورا له خوا د ۲۰۱۰ کال د مارچ د مياشتې په ۲۲ نېټه تاييد شوه.<br>• د محلي ارګانونو د خپلواک رياست د پاليسي د پلي کولو لپاره ادانه کار او د محلي مالي پلان جوړونه اداني کار بشپړ کړی دی.<br>• خپلواک رياست د محلي حقوقو کمېټه او همدارنګه د ټولنې د انکشافي شوراګانې انتقال کليوالي شوراګانو ته، د پلان طرحه، رامنځته کړی دی.<br>• خپلواک رياست د محلي حکومتدارۍ، ولايتي شوراګانې، د ولسوالۍ شوراګانې، د کلي شورا او د ښاروالي قوانين تدوين کړي چې اوسمهال د حقوقي مشاروينو له خوا، د دغه رياست د پاليسيو پر بنسټ، بيا کتل کيږي. کله چې د عدليې وزارت له خوا هم وکتل شو، ياد شوي قوانين د تاييد لپاره و وزيرانو شورا او پارلمان ته واستول شي. |
| د اداري حدودو لپاره د معيارونو را منځ ته کول او څېړول | • په دغه اړوند کوم خاص پرمختګ ندی شوي. |
| د فعالو حکومتي ادارو لپاره د مناسب زيربنا رامينځته کول په ځانګړي توګه په ولايتي کچه | • د افغانستان حکومت د نړيوال شريکانو د ملاتړ سره ټولتال ۱۷۹ د ولسوالي تعميرونه جوړ کړي دي چې د ۲۰۰۹ کال د جنوری د مياشتې راپديخوا ۱۰ دفتره زيات شوي دي. |
| د با اعتباره او لاسرسي وړ قضايي او جزايي سيستمونو رامنځ ته کول چې د ټولو اتباعو د بشري حقونو درناوی او ساتنه کوي | • تمه کيږي چې د جزا پر کُډ باندي بحثونه، چې مسوده يې د عدليې د وزارت له خوا تياره شوي ده، د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کې پای ته ورسيږي او د حقوقو پروسې لپاره به واستول شي.<br>• د حقوقي مرستو دفترونه د عدليې وزارت له خوا ۱۹ ولايتي دفترونو ته زيات شو چې په ۲۰۰۹ کال کې يوازې په يو ولايت کې شتون درلود او همدارنګه د حقوقي مساعدت کوونکو شمېر ۶۵ تنو ته زيات شوي چې په ۲۰۰۹ کال کې يوازې ۱۵تنه حقوقي کارکوونکو درلود. |

| | |
|---|---|
| | • د حقوقي مساعدت خدمتونه کوم چې د انجوګانو له خوا چمتو کېږي څه پرمختګ ندی کېږي او د ۲۰۰۹ کال په حال کې پاتې دی. اوسمهال کابو ۱۹۰ تنه حقوقي مساعدت کوونکې شتون لري چې د ۲۰۰۹ کال په اخر کې ۱۸۳ تنه وو.<br><br>• د سمون د پلې کولو د مدیریت د ځانګې په رامنځته کیدو سره، د لوي څارنوالي او سترې محکمې په دفترونو کې د معاشاتو او رتبو کې یو لږ پرمختګ ترسره شوی دی.<br><br>• د قانون او عدالت د ټولو لپاره پروګرام چې د هغه مسوده په دریو کلونو کې جوړه شوی وه، او نهایي شوی او ژباړل کېږي. |

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته د درناوي ښه والی، د ملکي وګړو د ساتنې، د ښځو او نجونو د وضعیت، د بیان د آزادي، د قانون د حاکمیت پر بنسټ د حساب ورکونې په اړه په ځانګړي ټینګار سره**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د نړیوالو قوانینو سره د ذیدخلو فعالینو د سمون له لارې، د ملکي خلکو پر وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پیښو په شمیر کې په کمښت سره | • په کال ۲۰۱۰ کې ۷۱۲۰ تنه افغان ملکي وګړی وژل او ژوبل شوي دي چې د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالې ښېي. د حکومت مخالف وسله والې ډلې د ملکي کسانو ۵۴۴۶ تنو تلفاتو کې ګرم دې چې د ټول تلفاتو ۷۶ سلنه جوړوي. ټولټال ۸۴۰ تنه د ملکي کسانو تلفات (د ټول تلفاتو ۱۲ سلنه) حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي دي. معلومه نه شوه چې پاتې ۱۲ سلنه تلفات کوم اړخ ته منسوب دی.<br><br>• تاکتیکي دایرکیفونه او د معیاری عملیاتو طرزالعملونه کوم چې د ایساف له خوا په کال ۲۰۱۰ کې پلې شوي دي، د حکومت پلوه ځواکونو له خوا ملکي کسانو ته د مرګ ژوبلې په شمېر کې کمښت لامل شوی دی. |

| | |
|---|---|
| | • یوناما د نړیوال بشری حقونو او نړیوال بشردوستانه قوانین د لا ښه درناوی ارتیا په اړوند د پوهاوي د هڅو د تبلیغ څارنه کوی کوم چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د ملکې کسانو د مرګ ژوبلې د کچې د کمولو په موخه جوړ شوی دی، دا ډول پالیسیو سره مرسته هم کوي. |
| د خپلو حقونو په اړه د افغانانو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه د پوهاوی لوړوالې | • د یوناما او د بشري حقونو د ستر کمشنر دفتر هغه راپور کوم چې د ناوړه دودیزو کړنو، او د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د له منځّه وړلو قانون او اړوند تبلیغاتی او روزنیز فعالیتونو، کوم چې د ۲۰۰۹ کال د اګست د میاشتې د قانون په اړوند پوه زیاتوی، خپور کړی دی.<br>• د ۲۰۱۰ کال په پارلمانې ټاکنو په جریان کې، او د یوناما د پوهاوي فعالیتونه د ښځو په منځ کې د سیاسی مشارکت حق ته وده وکړی دی. |
| د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره د حقوقي او پالیسی د اقداماتو اغیزمنتیا او د ښه والي ملاتړ | • حکومت د د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په خاطر یو ملي کمیسیون جوړ کړي او تر اوسه په ۲۲ ولایتونو کې د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي د قانون د تصویب لپاره کمیسیونونه جوړ کړي دي.<br>• په ۲۰۱۰ کال کې د یوناما او د بشري حقونو د ستر کمشنر دفتر هغه راپور کوم چې د ناوړه دودیزو کړنو، او د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د له منځّه وړلو قانون د پلې کولو په خاطر، مشخصه کړي چې دا ډول کړنې اوس هم په پراخه کچه شتون لري که څه هم د دولت غبرګون د دا ډول ناوړو کړنو او د ښځو په وړاندي تاوتریخوالی لږ ښه والی موندلی دی، خو پولیس ځواک او همدارنګه قضايي ځواک د قانون د بېپرې پلي کولو کې پاتې راغلی او د داسې قوانینو چې د ښځو حقونه خوندي ساتې، په پلې کولو کې یا نه غواړی او یا هم نه شي کولاي پلي کړي. د دغه راپور په اړوند تحقیق ښودلی ده چې د دغه قانون او د هغه د احکامو په اړوند د پوهاوي نشتون اوس هم د هغو کسانو په منځ کې چې باید دا پلې کړي پراخ دی.<br>• د ملګرو ملتونو د ښځو پروګرام چې د یو لړ ډونرانو د وجهې صندوق مدیریت کوي کوم چې د ښځو په ړواندي د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره ورکړ شوي دی، ملي سازمانونو ته فنډ ورکوي چې په دغه ډګر کې مبارزه وکړي او د ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۰ کاله پوري کابو ۴،۷ ملیونه امریکایي ډالرو مرسته کړی ده. |

| | |
|---|---|
| د معافیت سره د مبارزی او انتقالی عدالت د پر مخ بیولو په اړوند د حقوق او پالیسي تدابیرو اړوند حمایت لپاره ملاتړ او ښه پوهاوي | • د ۲۰۱۰ کال د می په میاشت کې د عدالت لپاره د قربانیانو جرګه، د معافیت، او د جون په میاشت کې د سولې مشورتي جرګې د دایردو څخه مخکې د حکومت د پام ماتولو په موضوعګانو خاطر دایره شوه.<br>• د کابل په کنفرانس کې حکومت ژمنه وکړه چې د سولې، بیا پخلاینه او عدالت په خاطر د عمل پلان باندی بیا کتنه کوي.<br>• د افغان د سولې او بیا ادغام پروګرام لاري ته اچول، د بشری او مدني ټولنې ډلو کې اندېښنه پیدا کړی په ځانګړي ډول چې په دغه پروګرام کې ویل شوي دي چې ممکنه ده ټولو ته سیاسې عفو وشې او د ناښوالو د حل لپاره طرزالعملونه په کار واچول شي.<br>• د اکتوبر د میاشتې په ۴ نېټه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې افغان مدني ټولنه یوه اعلامیه خپره کړه او د هغه په ترڅ کې یې د ولسمشر کرزی څخه وغوښتل چې د سولې عالی شورا پر ترکیب باندي بیا کتنه وکړي په ځانګړي ډول د ښځو او مدني ټولنو د استازیتوب په ډګر کې. د دې وروسته د نومبر په میاشت په کابل کې د یوي ورځې لپاره د عدالت او بیا پخلاینې یو کنفرانس جوړ شو. |
| د حکومت له خوا د نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونو په اړه د راپور ورکولو د اړتیاوو پوره کول او د افغانستان د بشري حقونود شورا د نړیوالي دوره یي بیاکتنې د وړاندیزونو پلي کول | • د ۲۰۱۰ کال د می په میاشت کې د اقتصادي – ټولنیز او کلتوری کمېټه، د افغان حکومت دغه کمېټې ته د دوهم استول شوي دوره ای راپور باندي کتنه کوم تر څو معلوم کړی چې د افغانستان حکومت خپل خلکو ته د اقتصادی – ټولنیز او کلتوری حقونو په ډګر کې څومره پرمختګ کړی دی.<br>• یوناما د عدلیې وزارت، بهرنیو چارو وزارت د بشری حقونو ځانګو او نورو برخه والو ته سیمنارونه ترتیب کړی چې دوی څرنګه کولاي شي د نړیوال دوره یی بیا کتنې سپارښتې د پلی کولو لپاره د عمل پلان ترتیب کړي.<br>• د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو د ښځو د دفتر په ملاتړ سره خپل لومړنی دوره ای راپور چمتو کړي چې د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمېټې ته واستوي. |
| د افغانستان د حکومت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ظرفیت او ژمنتیا زیاتوالی، د افغانستان د بشري حقونو د ملي اداري په توګه د بشري حقونو درناوی | • د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې د عدلیې وزارت د بشري حقونو ځانګې په رسمي ډول سره خپل کار پیل کړ.<br>• د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په اړوندو وزارتونو او د مدني ټولنې ډلو د فعالیتونو د همغږي کولو مشری کوي چې د |

| | |
|---|---|
| ساتنه تحقق او وده ورکول | بشری حقونو لپاره د ملي لومړيتوبونو پروګرام او همدارنګه مدنې مسؤليتونه پلې کړي.<br><br>• د کابل په کنفرانس کې حکومت ژمنه وکړه چې د جزايي اجراتو قانون مسوده تدوين او لومړيتوب ورکړي او همدارنګه د بنديانو لپاره ډيټا بيس به هم جوړ کړي.<br><br>• د جزايي قضاوت او جزا سيستمونو په اجرا کولو کې لږ ظرفيت د په خپل سر نيونو او توقيفولو او شفاف محاکمې د کمزور پلې کولو لامل شوی دی.<br><br>• د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د مياشتې په ۱۸ نېټه د افغانستان حکومت پريکړه وکړه چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون فعاليتونو لپاره دولتي بودجه اختصاص ورکوي. د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د مياشتې په ۱۳ نېټه د مالي وزير تاييد کړ چې يو مليون امريکايي ډالر، د ۲۰۱۱ کال د مارچ څخه بيا د ۲۰۱۲ کال تر فبروری مياشې پوری، بودجه ټاکل شوی ده. |

**پنځم. اقتصادي او ټولنيزه پراختيا**

**معيار: د حکومت پاليسې ګانې چې د نړيوالې ټولنې له خوا يې ملاتړ کيږي، کوم چې پايښت لرونکي اقتصادي رشد ته وده ورکوي او په ټوله کې د ثبات سره مرسته کوي**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړيتوب پروګرامونه د نړيوال ملاتړ په تاييد سره طرح او پلې کيږي | • د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژی د لومړيتوبو غوښتنې، د ۲۲ ملي لومړيتوبو پروګرامونو له لاري مشخص شوي دي چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په مياشت کې د کابل په کنفرانس کې وړاندي شوي وو.<br>• دوه د ملي پروګرانونو لومړيتوبونه په بشپړ ډول سره تاييد شوي دي: د افغانستان دسولې او بيا ادغام پروګرام، او د مالي اقتصادی سمون پروګرام.<br>• د افغانستان حکومت د ملي لومړيتوبونو د پروګرامونو لپاره د حساب ورکونې او څارنې کاری چوکاټونه رامنځته کړي، چې د ۲۰۱۰ کال د نومبر په مياشت کې د ګډ همغږي او نظارت بورد غونډې ته وړاندي شوی دی. |

| | |
|---|---|
| په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ویش | • د نړیوالې ټولنې سره په صلاح مشوره کې د ټولو ملي لومړیتوبونو پروګرامونو لپاره د عمل شپږ میاشتنې پلان طرحه شوی دی. بشپړ تمویل او د هر ملي لومړیتوبونو پروګرامونو لپاره دری کلن پروپوزل د طرحې په مرحله کې دی.<br>• د اووه وزارتونو لپاره د عامه مالی مدیریت تحلیل لپاره قراردادی ترتیبات (چې د پرمختیایی سرچېنو او مصارف کابو ۹۰ سلنه احتوا کوی) نهایي شوي دي. |
| د افغان سرچینو پر اساس د زیاتو عوایدو راټولول او دوامداره وده | • د افغانستان حکومت اټکل کړي چې په کال ۲۰۱۱ کې د عوایدو وده د کورنې ناخالص تولید د ۸،۹ سلنې څخه ۹،۶ سلنې ته وده وکړي.<br>• حکومت هوډ لري چې د ملي سیمه ییز سرچېنو د دهلیزونو د نوښت پروګرام طرحه او لګښت هم چمتو کړي. اوسنې چاری پر سېمه ییز اورګادي، د ملي حلقوی سړک او سیمه ییز پایپلاین ستراتیژیکانو طرحې باندی متمرکز دي.<br>• حکومت خپل د ملي استخراجې ستر پنځه کلن پروګرام چمتو کړی دی چې پر پنځه ستراتیژیک ډګرونو باندي، د پالیسې او او قانونې سمون، د سکتور طرزالعمل ښه والي، مدرن صنعتې سمون او په سوداګری چاپېریال کې ښه والي او معلومات مدیریت په ګډون، تمرکز لري چې زیاته پانګونه تسهیلوي.<br>• د افغانستان حکومت د ملي استخراجې صنعت ستر پروګرام د ملاتړ په خاطر نوي پالېسې ګانې، د منرالې استخراج، تیل او غاز په ګډون، مسوده کړي او همدارنګه د کانونو او هایدروکاربن کلیدی حقوقې سندونه بیا کتلې دي.<br>• د افغانستان حکومت چې د استخراجې صنعت د شفافیت د نوښت د سکرتریت غړی دی، تمه کیږي چې په ۲۰۱۲ کال کې د دغه نوښت د غړی په ډول ومنل شي. |

**شپږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ټیکاو په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري**

| د پرمختګ شاخصونه | مقیاسونه |
| --- | --- |
| د سیمه ایزو نهادونو ښه همغږي او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د افغانستان – پاکستان د ترانزیت او سوداګری تړون د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۸ نېټه باندي لاسلیک او د ۲۰۱۱ کال د فبروری د میاشتې په ۱۲ نېټه نافذ شو. د دغه تړون لاسلیکول د افغان موټروانانو څخه د ترانزیت د فیس د اخیستلو مسله به حل کړي کوم چې د افغانستان خوا هېله ښرګنده کړي چې دغه فیس دی معاف شي.<br>• د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان – هندوستان (تاپي) د غاز نل لیکه د کاری چوکاټ تړون د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د میاشتې په ۱۱ نېټه لاسلیک شو.<br>• د مزارشریف – حیران د اورګادی د جوړښت کار بشپړ شوی دی.<br>• د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د میاشتې په ۱۶ نېټه د افغانستان او پاکستان ولسمشران ژمنه وکړل چې پیشاور – جلال آباد او د کوټې -کندهار د اورګاډې د پټلی پروژې به د لومړیتوب په اساس پیل کړي.<br>• د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۲ نېټه د پاکستان او ترکمنستان هېوادونه د مرکزی آسیا د سېمه ییز اقتصادی کارپوریشن کې ومنل شول.<br>• د ۲۰۱۰ کال د مې د میاشتې په ۸ نېټه د کابل د وریښمو د سړک نوښت د یوناما له خوا لاری ته واچول شو.<br>• د نومبر د میاشتې په ۲۵ نېټه د افغانستان د اقتصاد وزیر د شانګهای د همکاری سازمان په غونډه کې ګډون وکړ او هېله ښرګنده کړه چې افغانستان هم د دغه سازمان بشپړ غړیتوب ورکړ شي.<br>• د نومبر د میاشتې د ۲ نېټې څخه بیا د ۴ نېټې پوری د ترکیې هېواد د استانبول په ښار کې د سیمه ییز اقتصاد همکاری څلورم کنفرانس دایره شوه. د کنفرانس په سپارتنو کې زیاتره پر سېمه ییز اورګاډی پټلی، د کانونو د استخراج صنعت، د ترانزیت او سوداګری د تړون د پلې کولو لپاره د ډونرانو ملاتړ او همدارنګه د ګمرکونو او ترانسپورت د زیربناو د متوازن ښه کولو باندي تمرکز درلود.<br>• د افغانستان، ایران او تاجکستان د ولسمشرانو دری اړخیزه ناسته د اګست د میاشتې په ۵ نېټه په تهران کې دایره شوه او هوکړه وشوه چې د اورګاډي پټلی، سړکونو، د انرژی مرکزونو او د تاجکستان د ایران لوری ته د افغانستان له لاري ګډ ستراتیژیک پروژی لاري ته واچول شي. |

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۴ نېټه د ترکیې په استانبول ښار کې د افغانستان، پاکستان او ترکیې ولسمشران د دري اړخیزې پنځمه ناسته دایره شوه.<br>• د اګست د میاشتې په ۱۸ نېټه د روسیې د فدراسیون، افغانستان، پاکستان او تاجکستان د هېوادونو ولسمشران د روسیې په سوچې ښار کې څلور اړخیزه غونډه وکړه چې په سېمه کې د ثبات، پراختیا او اقتصادی پرمختګ همکاری پر موضوعګانو باندې بحث وکړي. |

اووم. د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ مشارکت

معیار: د افغانانو تر رهبري لاندې د همغږي په چوکاټ کې د افغان لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې له خوا منسجم ملاتړ

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي او د حکومت د لومړیتوبونو سره په مطابقت د مرستو د سلنې زیاتوالی | • د افغانستان حکومت د ډونرانو مالی بیا کتنه، چې د مرستو سمون د تحلیل او پیمایش سند هم ویل کیږی، نهایی کړی دی.<br>• د افغانستان حکومت او د مرسته کوونکې ډونران په دوامداره توګه مذاکره کوي چې د لندن او کابل کنفرانس کې د ژمنو اړوند د تعریف او څارنې مشخصات وموندې چې آیا د مرستو ۸۰ سلنه د ملې لومړیتوبو د پروګرام سره سمون لري او که نه او هم او هم د انکشافي مرستو ۵۰ سلنه د افغانستان حکومت ته وړاندې شوي او که نه.<br>• د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې سره، د بودجې څخه بهر مالې اډانې په اړوند مشوره کړی دی. صلاح مشوری دوام لری په دې نظر چې د بودجې څخه بهر پراختیایی تمویل لپاره عملیاتې رهنمود نهایي کړي. |
| د دولت او نړیوالې ټولنې په استازیتوب د تدارکاتو او قراردادونو په اړه د حساب ورکونې بهتر کیدل | • د بهرنیو قراردادونو یوه کاري ډله رامنځته شوه.<br>• یوه تخنیکې کاری ډله رامنځته شوي چې د قراردادونو پروسه بیا وګوري او د اداری فساد د کړونو په برخه کې زیامندونکې ډګرونه تشخیص کړی. |
| د افغان لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د یوې وسیلې په حیث د کابل | • د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۱۵ نېټه د ګډې همغږی او بیا کتنې بورد غړی د دندو لایحه باندی بیا کتنه وکړه. |

| |
|---|
| د پروسې د ملاتړ په برخه کې د ګډي همغږۍ او بیاکتنې د هیئت پیاوړتیا |

**اتم: د نشه يي توکو سره مبارزه**

**معیار: د تریاکو د کښت د مخدره توکو د تولید او په مخدره توکو په اعتیاد کې پایښت لرونکی کمښت**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د تریاکو د کښت، مخدره توکو د تولید او اعتیاد په میزان کې کمښت | • په ۲۰۱۰ کال کې د تریاکو کښت ثابت پاتې شو چې ټولټال ۱۲۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي او دغه اندازه په کال ۲۰۰۷ کې ۱۹۳۰۰۰ هکتاره ځمکه وه.<br>• اټکل شوی دی چې په ۲۰۱۰ کال کې ۳۶۰۰ متریک ټنه تریاک تولید شوی وی چې د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۴۸ سلنه کمښت ښيي. د دغه کمښت یو لامل دا وو چې په دوه سترو تریاک تولید کوونکو ولایتونو کې، هلمند او کندهار، د کوکنارو کښت مرض وهلی وو. په ۲۰۱۰ کال کې سروي ښيي چې په افغانستان کې د تریاکو روږدو کسانو کې، د ۲۰۰۵ کال په پرتله ۵۳ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د ۱۵۰۰۰۰ تنو څخه په ترتیب سره، ۲۳۰۰۰ تنو لوړه شویده. په داسې حال کې چې د هیرونو روږدو کسانو کې ۱۴۰ سلنه زیاتوالی راغلی او شمېره یې ۵۰۰۰۰ زره څخه ۱۲۰۰۰۰ تنو ته زیاته شویده. |
| د مؤثره مخنیوي او د قاچاق پر وړاندې د مبارزې د هڅو زیاتوالی | • په کال ۲۰۱۰ کې د مخدره توکو په وړاندی مبارزې افسران ټولټال ۱۲۷۷ عملیاتونو ترسره کړي چې د هغه په پایله کې ۵۱۹۹۴ کیلوګرام تریاک، کابو ۷۰۰۰ کیلوګرام هیروین، ۶۵۰۰۰ کیلوګرام چرس، ۳۴۰۰ کیلوګرام مُرفین او همدارنګه ۱۷۹۸۹۵ اړین کیمیاوي مواد کشف او ضبط شوي دي. ۶۴ د مخدره توکو د تولید کارخانې ویجاړ شوي دي، او ټولټال ۱۱۸۶ مظنون کسان، د ۱۰ تنو بهرنې اتباع په ګډون، ګرفتار شوي دي.<br>• په مجموعي ډول د مبارزی له امله، د تارسیت دوه (د مخدره توکو په نښه شوي سېمه ییز ارتباطات، تخصص او روزنې نوښت) عملیاتو پر مهال په ۲۰۱۰ کال کې ۱۶۳۰ کیلوګرام اسیتیک انهایدرید په افغانستان کې، ۳۸۳ کیلوګرام په ایران کې او ۲۱۰۰۰ کیلوګرام په پاکستان کې کشف او ضبط شوي دي د |

| | |
|---|---|
| | تارسیت دریم عملیات د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل شوی دی. |
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې ترياک کرل کيدل، په قانوني کرنه او اړونده خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زیاتوالی | • څرنګه چې په تېرو دوو کلونو کې د ترياکو کښت په ثابت ډول پاتې شوی دی، اوس مهال د دغه شاخص په اړوند کومه شمېره شتون نلري. |